عمومي اسامبله

امنیت شورا

خپریدل: عمومي
۵ مارچ ۲۰۱۳
اصل: انګلیسي

عمومي اسامبله
اووه شپیتمه ناسته
د اجنډا ۳۸ ماده
**د افغانستان حالت**

**د امنیت شورا**
**اته شپیتم کال**

**د افغانستان وضعیت او پر نړیواله سوله او امنیت یې اغیزې**

**د عمومي منشي راپور**

**لومړی: پیژندنه**

۱. دغه راپور د عمومي اسامبلې د ۶۸/۱۶ پریکړه لیک او د امنیت شورا ۲۰۴۱ (۲۰۱۲) پریکړه لیک په تعقیب په کومو کې چې له ما غوښتل شوي وو، چې په هرو دریو میاشتو کې په افغانستان کې د پرمختګونو په اړه راپور ورکړم، وړاندې کیږي.

۲. زما د ۲۰۱۲ کال د ډسمبر د ۶ نیټې د پخواني راپور (A/67/619-S/2012/907) له خپریدو راهیسې، دغه اوسنی راپور د سیاسي، بشري، پرمختیایي او د بشري حقونو د هڅو په ګډون، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعالیتونو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي. د دغه راپور ضمیمه د امنیت شورا د ۱۸۶۸ (۲۰۰۹) پریکړه لیک سره سم، د ۲۰۱۲ د مارچ د ۵ نېټې راپور (A/66/728-S/2012/133) د خپریدو راهیسې د معیارونو او شاخصونو په لور د ترسره شوي پرمختګ ارزونه رانغاړي.

**دویم: اړوند پرمختګونه**

**الف. سیاسي پرمختګونه**

۳. د راپور ورکولو موده د امنیت او سیاسي لیږد په اړه د افغان چاروکو، سیاسي ګوندونو او مدني ټولنې ترمنځ د ژور تمرکز شاهده پاتې شوې کوم چې به په ۲۰۱۴ کې د نړیوال امنیت د مرستندویه ځواک (آیساف) او د ولسمشرۍ د ټاکنو په پای ته رسیدو سره پای ته ورسیږي. د دې مهمو پیښو سره تړلې مسله هغه کړنه ده چې موخه یې د احتمالي روغې جوړې د پروسې تعریف او شکل ورکول دي، په کوم باندې چې د افغانستان دولت په زیاتیدونکې توګه د ملکیت ادعا کوي.

**الف. سیاسي پرمختګونه**

۴. د ډسمبر په ۲۴، د بهرنیو چارو وزارت یو بیان خپور کړ چې په کې ویلي يې چې د سولې مشورتي ناستې باید د افغانستان د حکومت سره په موافقه او په افغانستان کې دننه ترسره شي. د ډسمبر په ۲۶، ولسمشر حامد کرزي، ټینګار وکړ چې د سولې هر ډول بهیر باید د افغانستان د حکومت او د سولې د عالي شورا تر مشرتابه

لاندې ترسره شي. د ۲۰۱۳ کال د جنوري د ۸ څخه تر ۱۱ پورې، متحده ایالاتونو ته د ولسمشر د رسمي سفر په پای کې، په یوه ګډه اعلامیه کې، دواړو هیوادونو د افغانانو په رهبرۍ د سیاسي پروسې او په دوحه کې د طالبانو د صلاحیت لرونکو استازو لپاره د دفتر د پرانیستلو لپاره په ملاتړ چې د سولې د عالي شورا سره د خبرو اترو غوښتونکي دي، په خپلو ژمنو ټینګار وکړ. د فبروري په ۳ او ۴، په یوه درې اړخیزه غونډه کې چې د انګلستان د لومړي وزیر په استوګنځي/ چیکرز کې جوړه شوې وه، د بریتانیا او شمالي آیرلینډ د هیواد استوګن لومړي وزیر، د افغانستان، پاکستان او انګلستان حکومتونو په ورته ډول په دوحه کې د دفتر د پرانیستلو لپاره ملاتړ څرګند کړ. درې واړو هیوادونو ژمنه وکړه چې په راتلونکو شپږو میاشتو کې به د سولې یوه جوړجاړي ته د رسیدو لپاره ټول لازم اقدامات ترسره کړي.

۵. د سولې عالي شورا، د عالمانو د سولې د کنفرانس لپاره د چمتووالي په شمول، چې د افغانستان او پاکستان د علماوو د شوراګانو له خوا په روشونو کې توپیرونه په ګوته کوي، د داسې شرایطو د را منځ ته کولو هڅو ته چې د پخلاینې لپاره مساعد وي، دوام ورکوي. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) د سیاسي هڅو د ترسره کولو سربېره، د شورا ملاتړ ته دوام ورکوي ترڅو د نورو رسمي خبرو لپاره د اړینو شرایطو په رامنځ ته کولو کې مرسته وکړي. د ډسمبر په ۸ او ۹، ماموریت د مدنې ټولنې، میرمنو د ډلو، مذهبي شخصیتونو او سیاسي مشرانو سره د شورا د غړو په ګډون د ګردي میز دوه بحثونه دایر کړل. د یوناما په مرسته د افغانانو تر منځ د خبرو اترو لپاره پیرامیټرې/مولفې وپلټل شوې. یوناما، د دارالانشا د سیاسي چارو د ریاست په ملاتړ د منځګړیتوب درې ورکشاپونه هم په لار اچولي، چې د شخړو د حل په اړه یې په هرات، مزار شریف او کابل کې د ټولنې مشران ښکیل کړي. د افغانستان د سولې او بیا یوځای کیدو پروګرام د ټیټې کچې د پخوانیو جنګیالیو د بیا یوځای کولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړ چې ملاتړ یې د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام (UNDP) او یوناما لخوا شوی. د پر وګرام د ګډ سکرتریت په وینا، د ډسمبر تر پایه ټولټال۶۱۹۳ بلواګر له یاد پروګرام سره یوځای شوي.

۶. د ډسمبر په ۱۷، امنیت شورا ۲۰۸۲ (۲۰۱۲) شمیر پریکړه تصویب کړ، په کوم کې چې امنیت شورا د طالبانو د بندیزونو د اقداماتو په اړه تعدیلات رامنځ ته کړي چې پخوا په ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) پریکړه لیک کې وړاندې شوي وو. د یادونې وړ ده، شورا د غړو هیوادونو څخه په کلکه غوښتنه وکړه چې د امنیت شورا کمیټې ته په لست کې د نیولو او د لست څخه د ایستلو د غوښتنې د وړاندې کولو څخه دمخه د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) پریکړه لیک له مخې د افغانستان له دولت سره مشوره وکړي. یادې شورا همدارنګه هغه چمتووالي ته اشاره وکړه چې په چټکه د سفر د بندیز د معافیت په غوښتنو چې د حکومت له خوا پرې ټینګار شوی،غور وکړي.

۷. د ۲۰۱۴/۲۰۱۵ کلونو انتخاباتي دورې مسلې په پرله پسې توګه د سیاسي لرلید واکمني ته دوام ورکړ. د جنوري په ۲۳، ولسمشر یو فرمان خپور کړ چې په هغه کې یې لارښوونه کړې وه چې د بریښنایي تذکرو ملي پروژه (چې د "بریښنایي تذکرو " په نوم پیژندل کیږي) باید د نوي کال په لومړۍ ورځ یعني د (مارچ په ۲۱) د کارت توزیع پیل کړي. د کورنیو چارو وزارت ته د معلوماتو د راټولولو او د کارتونو د صدور دنده وسپارل شوه، پداسې حال کې چې د مخابراتو او معلوماتي ټیکنالوژۍ وزارت ته د پروژې مسؤلیت ور له غاړې شو. د دې پروژې هدف د ۲۰۱۴کال د مارچ تر میاشتې پورې د ۱۴ میلیونو تذکرو ویش دی. د مالیې وزارت استازو وویل چې شاوخوا ۱۲۰ میلیون ډالرو ته د دوه اړخیز تمویل د چمتووالي له لارې اړتیا ده. داسې انګیرل کیږي چې کارتونه به په ۲۰۱۴ کې د ټولټاکنو لپاره د رایې ورکونکو د پیژندنې د یوې نمونې په توګه وکارول شي او په اوږدمهال کې به د رای ورکونې هر مرکز ته د ځانګړي شویو لستونو سره د رای ورکوونکو د ثبت د دفتر د رامنځ ته کولو لپاره د دایمي پروسې په توګه کار وکړي. د جنوري په ۲۳، وروسته لدې چې حکومت په پرله پسې توګه د بریښنایي تذکرو په لا اهمیت ټینګار وکړ، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د رایې ورکوونکو د راجستریشن د محدود پلان اعلان کړ چې هغه به د رایو په زړو کارتونو او تقویتي نوملیکنې باندې تکیه کوي. ټاکل شوې چې دا لړۍ د اپریل په ۲۲ نیټه پیل شي، دا پلان به هغو خلکو ته چې قانوني عمر یې پشپړ کړی، هیواد ته بیرته راستانه شوي او / یا یې خپل کارتونه ورک کړي او یا زیانمن کړي دي، د رایې نوي کارتونه ورکړي.

۸. د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام (UNDP) د انتخاباتي ملاتړ ایلیکټ دوه پروژه (د سبا لپاره د قانوني او انتخاباتي ظرفیت لوړولو، دوهم پړاو) په پرله پسې توګه د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته تخنیکي ملاتړ چمتو

کوي، پداسې حال کې چې یوناما د معلوماتو د شریکولو غونډو ته اسانتیاوې برابرې کړي ترڅو د نړیوالو شریکانو د سمون د یقیني کولو د چارو سره مرسته وکړي، په داسې حال کې چې افغان ټاکنیز چوکاټونه وده کوي. د کمیسیون په غوښتنه، د نومبر له ۲۷ څخه د ډسمبر تر ۵ او د جنوري له ۱۸ څخه تر ۲۸ پورې، د ملګرو ملتونو د ټاکنیزو اړتیاوو د ارزونې دوه پراویزه ماموریتونه ترسره شوو. د سیاسي چارو د ریاست د ټاکنیزې مرستې د څانګې مشر د ټیم رهبري وکړه او له بیلابیلو افغان او نړیوالو شریکانو سره یې ولیدل تر څو د افغانانو تر مشرۍ لاندې د راتلونکو ټاکنو په اړه د ملګرو ملتونو د احتمالي مرستې د برابرولو لپاره د مناسبو پرامیټرونو په اړه ما ته وړاندیزونه چمتو کړي.

۹. سیاسي ګوندونه او مدني ټولنه د ټاکنیزو پرمختګونو په برخه کې په پرله پسې توګه په شدت سره ښکیل وو. د افغانستان د سیاسي ګوندونو او ایتلافونو د همکارۍ شورا چې ۲۲ بیلابیل ګوندونه یې اوس غړیتوب لري، په سپټمبر کې د ډیموکراسۍ د منشور له خپریدو وروسته مخ پر زیاتیدونکي همغږي څرګنده کړې. د جنوري په ۱۲ په یوه خبري کنفرانس کې، د همکارۍ شورا د انتخاباتي شخړو د حل میکانیزم په توګه د انتخاباتي شکایتونو د دایمي کمیسیون څخه ملاتړ څرګند کړ. د جنوري په ۲۲، دې د رایې ورکوونکو د نوم لیکنې د ټیټې کچې په تقویتي پلان نیوکه وکړه، د رای ورکوونکو د ثبت د بشپړ تمرین لپاره د اصلي پلانونو د ملاتړ په برخه کې په پاته راتلو سره او د هغه څه په اړه اعتراض کوي چې دا د ټاکنو د مدیریت د ادارې په کارونو کې د دولت مداخله ګڼي. د جنوري په ۲۷، د افغانستان د ملي جبهې د ائیلاف مشرانو - د مخالفینو د دوو اصلي ډلو څخه یوه - او یو شمیر نورو سیاسي شخصیتونو هغه څه خپاره کړل چې دوي یې "د هیواد د جهادي او سیاسي مشرانو ګډه اعلامیه" بولې، چې پکې د رڼو، عادلانه او آزادو ټاکنې او د سولې د ټول شموله پروسې غوښتنه کوي. لاسلیک کونکو د زړو کارتونو د کارولو پلانونه وغندل او غوښتنه یې وکړه چې باید بریښنایي پیژند پاڼې یا د رایو نوې کارتونه ورکړل شي. دوي خبرداری ورکړ چې په ټاکنیز پروسه کې د اصلاحاتو نه شتون او د نړیوالو نظامي ځواکونو کمیدل به د سیاسي بحران لامل شي.

۱۰. ملي شورا د ټاکنو لپاره د تقنیني چوکاټ په اړه کار ته دوام ورکوي. د ډسمبر په ۱۹، د انتخاباتي مدیریت د ارګانونو د جوړښت په اړه د قانون د مسودې پر سر د مشرانو جرګې، د ملي شورا د پورته خونې، او د ولسي جرګې، د کښته خونې تر منځ د لانجې د حل په موخه یوه ګډه کمیته جوړه شوه. ولسي جرګې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د انتخاباتي شکایتونو د کمیسیون لپاره د انتصاب د ټولشموله میکانیزم غوښتنه وکړه چې په وروستي هغه کې دوه نړیوال غړي شامل دي. دا دواړه غوښتنې د مشرانو جرګې لخوا رد شوې دي. د قانون نورې کلیدي برخې، د ټاکنو د قانون مسوده، د ډسمبر په ۲۹، ولسي جرګې ته استول شوې وه. دغې لایحې جنجال را منځ ته کړ، دې ته په پاملرنې سره لکه څنګه چې د جوړښت، دندو او صلاحیتونو د قانون په مسوده کې راغلي دا به د قضایي ارګان سره د انتخاباتي شخړو د وروستی مینځګړي په توګه د انتخاباتي شکایتونو کمیسیون تعویض کړي. په دې پورې نور اړوند وړاندیز شوي تعدیلات، د نورو په منځ کې، د نوماند وړتیا/مشمولیت، انتخاباتي سیستم او د ټاکنو د ځنډولو یا تعلیق واک.

۱۱. ولسي جرګې د بودیجې د کم تطبیق د میزان په اړه دوامداره نا رضایتي څرګنده کړه او د ډسمبر په ۱۱ یې د ۱۳۹۰ مالي کال (۲۱ مارچ ۲۰۱۱ - ۲۰ مارچ ۲۰۱۲) لپاره د لګښت راپور رد کړ. د جنوري په ۱۴ د انرژۍ او اوبو، معارف، ښاري پراختیا، کورنیو چارو، اقتصاد، کانونو، لوړو زده کړو، مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې، سوداګرۍ او صنعت، مخابراتو او کلتور او دفاع وزیران د شکایتونو په اړه د دې لپاره ولسي جرګې ته د استضاح لپاره ور غوښتل شوي چې د دوي ادارو د تخصیص شوې بودیجې د نیمایي څخه لږ هغه مصرف کړي و. د ۱۱ وزیرانو څخه یوازې ۷ هغه ولسي جرګې ته حاضر شول، د حکومت په خبره پاتې وزیران د اړوندې دورې پرمهال په دفترونو کې موجود نه وو. ولسي جرګې د دې کار د ترسره کولو څخه ډډه وکړه او هوډ یې وکړ چې ټول ۱۱ واړه وزیران به په مارچ کې چې کله د ژمي د رخصتیو څخه بیرته ستانه شي، استیضاح کړي. د جنوري په ۲۰، ولسي جرګې له دوه ځله ردولو وروسته، د ۱۳۹۲ مالي کال ملي بودیجه (۲۱ ډسمبر ۲۰۱۲-۲۰ ډسمبر ۲۰۱۳) تصویب کړه.

۱۲. له ایساف څخه افغان امنیتي نهادونو ته د امنیتي مسؤلیت پړاویز لیږد دوام لري. د ډسمبر په ۳۱، ولسمشر اعلان وکړ چې د لیږد څلورم پړاو به د مارچ په میاشت کې پیل شي، چې په ترکیب کې یې ۵۲ ولسوالۍ دي

چې ډېری یې د هیواد په شمال او مرکز کې دي. د دې اعلان سره، د ۲۳ ولایتونو لیږد پیل یا بشپړ شوی. د لیږد په څلورم پړاو کې هغه سیمې شاملې دي په کومو کې چې شاخوا ۱۱ سلنه خلک اوسیږي. په دې اساس چې کله د تیرو دریو مرحلو سره یوځای شي، ۸۷ سلنه نفوس اوس د امنیت تر پوښښ لاندې دی د کوم لپاره چې افغانستان مخکښه مسؤلیت لري. په جنوري کې متحده ایالاتو ته د ولسمشر د سفر په جریان کې، هوکړه وشوه چې پنځم او نهایي پړاو به د ۲۰۱۳ کال په لومړۍ ربع کې اعلان شي، خو د کال په نیمایي کې به پلي شي.

۱۳. افغان او نړیوال همکاران د ۲۰۱۴ کال نه وروسته دوره کې د نړیوالې سیاسي او نظامي ښکیلتیا د بڼې او وسعت په اړه خبرو اترو ته دوام ورکوي. د متحده ایالاتو د سرتیرو لپاره قانوني امتیازات او معافیت یوه ډېره نازکه مسله ده، د جنوري په ۱۴، ولسمشر څرګنده کړه چې دا ډول امتیازات او معافیت یوازې د افغانانو په واسطه د مشورتي غونډې یا جرګې له لارې تصویب کیدلای شي. د جنوري په ۲۹، افغانستان او متحده ایالاتو د دوه اړخیز امنیتي تړون په اړه د خبرو دریم پړاو پیل کړ. د فبروري په ۶، اوسلو ته د یوه رسمي سفر په جریان کې، ولسمشر له ناروې سره د ستراتیژیکو همکاریو تړون لاسلیک کړ چې تر ۲۰۱۷ کال پورې به همکاري را منځ ته کوي او همدا راز به په تعلیم، ښې حکومتوالۍ، د کلیو پر پراختیا، د ښځو پر حقونو، او د فساد پر وړاندې په هڅو باندې تمرکز کوي.

**ب. امنیت**

۱۴. په ترتیب سره د ټولټال ۱۵۲۰۰۰ او ۱۹۵۰۰۰ اضافي هدفونو په مقابل کې، د ډسمبر تر ۲۵ پورې، د افغان ملي پولیسو د منسوبینو ټولټال شمیر ۱۴۸۹۸ او د ملي اردو د سرتیرو ټولټال شمیر ۱۸۱۹۵۰ وو. د جنوري په ۱۲په یوه ګډه اعلامیه کې، د افغانستان او متحده ایالاتو ولسمشرانو یو ځل بیا ټینګار وکړ چې د مناسبو تجهیزاتو او وړتیاوو د ژر تر ژره چمتو کولو له لارې د افغان ظرفیتونو لوړول یو مهم لومړیتوب و. د افغان عامه محافظت د ځواک د منسوبینو شمیر اوس مهال ۱۳،۴۰۷ دی.

۱۵. د فبروري په ۵، د کورنیو چارو وزیر د وزارت او افغان ملي پولیسو لپاره د ۱۰ کلونو لپاره د لید یوه مسوده د پولیسو د انسجام نړیوال بورډ ته وړاندې کړه. د دې ستراتیژي موخه داده چې پولیس د یوه امنیتي ځواک څخه د خدماتو په یوه ځواک بدل کړي چې تمرکز یې د قانون په پلي کولو او د ټولنې په پولیسي چارو متمرکز وي. د دې ستراتیژۍ سره په سمون کې، د جنوري په ۲۸، د یوناما او د پروژوې خدمتونو لپاره د ملګرو ملتونو د دفتر لخوا او د هالنډ د حکومت په مالي مرسته د پولیسو یوه دیموکراتیکه پروژه پیل شوه. دا درې کلنه پروژه باید د وګړو د پیاوړي کولو په برخه کې مرسته وکړي ترڅو د پولیسو د حساب ورکونې او د ټولنې د ښکیلتیا په برخه کې فعال رول ولوبوي. دا پروژه د یاد وزارت د پولیس – مردمي (دیموکراتیک پولیسو) د پراخ پروګرام په زمینه کې ښځو او ماشومانو ته په لاسرسي ټینګار کوي. په فعالیتونو کې د کورني غبرګون د واحدونو او روغتیایي پاملرنې د چمتو کونکو تر منځ د اړیکو قوي کول؛ د پوهنتون د لاسرسي پروژه؛ د ښځینه پولیسو د شوراګانو لپاره د ملاتړ چمتو کول او د ښځینه پولیسو افسرانو لپاره د سواد زده کړې پروګرام شامل دي. د فبروري له ۲۰ څخه تر ۲۹ پورې، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام له خوا د قانون او نظم د اداره شوې وجهي صندوق په مرسته د کورنیو چارو د وزارت ۱۱ لوړ پوړي چارواکي د ۱۰ ورځو څیړنیز سفر د ترسره کولو لپاره ترکیې ته ولاړل ترڅو د ټولنې د پولیسو د نوښتونو مشاهده وکړي. وجهي صندوق د ټولټال ۱۳۸،۲۱۶ پولیس افسرانو او د زندانونو د ټولټال ۷،۴۳۰ منسوبینو معاشونو او تادیاتو ته دوام ورکوي. د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام د تفتیش او څیړنو دفتر د وجهي صندوق په اړه تحقیقات بشپړ کړي ، او تمه کیږي چې د دې موندنو پر اساس به اداري کړنه ترسره شي. د راپور لنډیز تمویل کوونکو ته ویشل شوی.

۱۶. د فبروري تر ۴ پورې، د افغان محلي پولیسو پروګرام په ۹۵ تایید شویو سایټونو کې له ۲۰۱۰۵ څخه ډیر منسوبین درلودل او پروګرام د لا پراختیا په حال کې وه. پداسې حال کې چې د محلي امنیت دې نوښت په ځینو سیمو کې د ښه ثبات او حساب ورکونې د ترویج په برخه کې د پرمختګ په چارو کې مرسته کړې، خو د ارزونې، قوماندې او کنټرول او د سیمه ییزې کچې د نظارت په اړه د پالیسو د ناکافي پلي کیدو په اړه اندیښنې

شتون لري. په ۲۰۱۲ کال کې، یوناما ۵۵ پیښې مستندې کړې، چې په پایله کې یې ۶۲ ملکي تلفات (۲۴مړه او ۳۸ ټپیان) را منځ ته شوي کوم چې افغان محلي پولیسو ته منسوب شوي دي.

۱۷. ملګري ملتونه په امنیت پورې د اړوندو پیښو نظارت کولو ته دوام ورکوي کوم چې د کار، خوځښت او ملکي فعالینو د خوندیتوب سره تړاو ولري، په ځانګړي توګه هغه چې د ملګرو ملتونو د فعالیتونو او پروګرامونو د تحویل چارې اغیزمنوي. د نومبر له ۱۶ څخه د فبروري تر ۱۵ پورې، ټولټال ۳۷۸۳ پیښې ثبت شوې، چې دا د ۱۲/۲۰۱۱ د ورته مودې په پرتله ۴ سلنه کمښت ښیي، کله چې ۳۹۴۰ پیښې ثبت شوې. د ۲۰۱۱ کال د ورته مودې په پرتله، د ۲۰۱۲ کال لومړی اته میاشتې په پیښو کې د ۳۰ سلنې کموالي شاهدې پاتې شوې. په وروستي ربع کې، د ۲۰۱۱ کال د کچو په پرتله، ۱۰ سلنه متوسط کمښت شتون درلود. د ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ کلونو په پرتله د واورې د پام وړ کم اورښت د پیښو د معمول ګرندي کمښت پرځای د ژمي په جریان کې د تاوتریخوالي د دوامداره کچې سره مرسته وکړه. د ۲۰۱۳ له پیل څخه د فبروري تر ۱۵ پورې، په ۲۰۱۲ کې د ورته مودې په پرتله ۶ سلنه ډیروالی راغلی.

۱۸. هغه ولایتونه چې د هیواد په سویل، سویل ختیځ او ختیځ کې موقیعت لري په پرله پسې توګه د ډیرو امنیتی پیښو شاهدان پاته شوي، چې ترټولو ډیری هغه یې په ختیځ کې په ننګرهار ولایت کې ثبت شوی. په دې کې د ډسمبر په ۲ د جلال آباد د هوایی ډګر پر وړاندې یو ډله ییز برید شامل دی. وسله والو نښتو او په لاس جوړ چاودیدونکو توکو ډیری بریدونه ځان ته اختصاص کړي؛ د یاغیانو او افغان یا نړیوالو ځواکونو ترمنځ وسله والې نښتې د ۲۰۱۱ کال د ورته مودې په پرتله د پیښو لوړ تناسب ښیې.

۱۹. د جنوري په ۱۶ د ریاست په مرکزي دفتر او د جنوري په ۲۱ د ترافیک پولیسو پر وړاندې د پیچلو بریدونو سریېره، په مرکزي کابل کې بریدونو - د ډسمبر په ۶ یوه ځانمرګی برید کوم چې د ملي امنیت عمومي رییس سخت ټپي کړ، ځان ته د پام وړ پاملرنه اړولې. په ټوله کې، د نومبر له ۱۶ څخه د فبروري تر ۱۵ پورې، د ۱۲/۲۰۱۱ د ورته مودې په پرتله لږ ځانمرګي او د لیدو وړ بریدونه شوي، لامل یې تر ډیره د افغان او نړیوالو امنیتي ځواکونو لخوا د بریالیو عملیاتو ترسره کول و. د فبروري په ۳، شپږ تورن ځانمرګي برید کونکي په کابل کې د افغان امنیتی ځواکونو لخوا ونیول شول. د یاغیتوب سره د تړلي تاوتریخوالي ور ها خوا، وګړي په پرله پسې توګه د جرایمو په شمول د نا امنۍ د بیلابیلو سرچینو سره مخ دي. د هرات په ښار کې د یوه مشهور سوداګر د ماشوم د تښتونې او وژنې په تعقیب چې جسد یې د جنوري په ۳۱ وموندل شو، په دې اړه غوسې او قهر سوداګریزو اعتصابونو او لاریونونو ته لار هواره کړه چې د مرتکبینو لپاره یې د اعدام د سزا غوښتنه کوله.

۲۰. د جنوري په ۱۶ د ملي امنیت ریاست ودانۍ ته څېرمه د برید پر مهال په کابل کې د ملګرو ملتونو د ماین پاکۍ د خدمتونوو د اصلي ودانۍ په شمول، په دوو پیښو کې د ملګرو ملتونو ودانۍ ته زیان واوښت. د ډسمبر په ۱۳، په فاریاب ولایت کې د ملګرو ملتونو د پروژې په ساحه کې یو ځای پر ځای شوی چاودیدونکي توکي وموندل شول. د ډسمبر په ۱۷، د ملګرو ملتونو یوه نقلیه وسله هغه وخت زیانمنه شوه کله چې یوه ځان وژونکي په کابل کې د یوه بهرنې قراردادي ودانۍ په نښه کړه او د جنوري په ۲۹ د ملګرو ملتونو کاروان چې جلال آباد ته په لار و د کابل په ولایت کې د سپکو وسلو دزې وشوې.

## ج. سیمه ییزه همکاري

۲۱. د فبروري په ۶، د یوه خوندي او با ثباته افغانستان لپاره د سیمه ییز امنیت او همکارۍ په اړه د استانبول د بهیر د لوړ پوړو چارواکو څلورمه ناسته په باکو کې جوړه شوه. په پروسه کې د اعتماد جوړونې د شپږو اقداماتو لپاره د پلي کولو پلانونه تایید شوي: د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه؛ د تروریزم پر وړاندې مبارزه؛ د سوداګرۍ، تجارت او پانګونې فرصتونه (د ۲۰۱۲ کال په نومبر کې له دوو اقداماتو څخه یوځای او ادغام شوي)؛ سیمه ییزه زیربنا؛ معارف او د ناورین مدیریت. په هرصورت، د یو څه ښه تنظیم چارې لا هم پاتې دي. د استانبول د پروسې د سیاسي ابعادو د ساتلو اړتیا د برخه اخیستونکو لخوا جوته شوه، د وزیرانو راتلونکې ناسته به د اپریل په ۲۶ په الماتې کې جوړه شي.

۲۲. د ډسمبر په ۱۱ او ۱۲، د افغانستان، پاکستان او ترکيې د ولسمشرانو د اوومې درې اړخيزې سرمشريزې غونډه په انقره کې وشوه. د غونډې ګډونوالو د افغانانو په مشرۍ او مالکيت د سولې او پخلاينې د هڅو او سيمه ييزو امنيتي ننګونو ته د رسيدګۍ د اړتيا په موخه په خپلو ژمنو ټينګار وکړ تر څو د دريو واړو هيوادونو ترمنځ همکاري تشديدکړي. د فبروري په ۶ او ۷، د افغانستان ولسمشر د اسلامي همکاريو د سازمان په دولسمه غونډه کې چې په قاهره کې جوړه شوه، برخه واخيسته. هغه د سازمان له غړو وغوښتل چې د ترهګري په نوم کړنې چې د مذهب په نوم ترسره شوي او همدا راز د افراطيت د خپراوي لپاره د جوماتونو او مدرسو کارول وغندي. په خپل وروستي بيان کې، سازمان د افغانانو په مالکيت او د افغانانو په مشرۍ د سولې د پروسې څخه ملاتړ څرګند کړ.

۲۳. د پاکستان حکومت د افغانستان د سولې او پخلاينې د هڅو لپاره مشخص ملاتړ چمتو کړی دی. د جنوري په ۱۸، د افغانستان، پاکستان او متحده ايالاتو ترمنځ د درې اړخيزې ناستې وروسته، اعلان وشو چې په پاکستان کې به ټول افغان توقيف شوي طالبان ډير ژر د اعتماد جوړونې د اقدام په توګه له بند څخه خوشې شي. د فبروري په ۱۴، د پاکستان د بهرنيو چارو د وزارت يوه وياند وويل چې پاکستان ۲۶ تنه افغان طالبان له بند څخه خوشې کړي دي. د بنديانو د نورو خوشي کيدو په اړه نور معلومات شتون نه لري. پداسې حال کې چې حمايه يې د افغانستان د حکومت لخوا کيږي، د پخوانيو توقيفيانو د ځای ځايګي او فعاليتونو په اړه د تعقيبي معلوماتو د نشتوالی په پام کې نيولو سره د بنديانو خوشې کول د مدني ټولنې د فعالينو تر منځ د يو څه جنجال موضوع ګرځيدلې. په درې اړخيزه ناسته کې چې د فبرورۍ په مياشت کې د افغانستان، پاکستان او انګلستان ترمنځ جوړه شوې وه، هوکړه وشوه چې د بنديانو د راتلونکو خوشې کيدو دمخه به د سولې د عالي شورا سره مشوره وشي.

۲۴. زما ځانګړی استازی په پرله پسې توګه د سيمه ييزې همکارۍ لپاره په ملاتړ ټينګار کوي. د جنوري په ۱۸ او ۱۹نيټه، هغه په ابوظبي کې په سيمه ييزو سياسي خبرو اترو کې د برخې اخيستنې په موخه چې د ناروې په ملاتړ د افغانستان د حکومت او متحده عربي اماراتو لخوا په لار اچول شوی و، ګډون وکړ. برخه اخيستونکو د سيمه ييز لرليد له پلوه په افغانستان کې د ثبات په اړه د نظر تبادله وکړه، په ليږد، سولې او پخلاينې، ټاکنو او د تروريزم پر وړاندې د مبارزې په هڅو يې تمرکز وکړ.

**درېيم: بشري حقونه**

۲۵. د ډسمبر په ۹، يوناما د "لا هم اوږده لار پاتې ده تر سرليک لاندې يو راپور خپور کړ: په افغانستان کې د ښځو پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون پلي کول" دا راپور په هغو معلوماتو ولاړ وکوم چې د ۲۰۱۱ د اکتوبر څخه تر ۲۰۱۲ سپټمبر پورې د ۲۲ ولايتونو څخه را غونډ شوی. دې راپور د پلي کولو په برخه کې پرمختګ او تشې موندلې. که څه هم چې څارنوالانو او محکمو په ډيريدو قضيو کې قانون جوړونې ته مخه کړې، خو ټوليزې غوښتنې کمې وې. په ۱۶ ولايتونو کې، پوليسو او څارنوالانو د ښځو پر وړاندې د تاو تريخوالي ټولټال ۴۷۹ راپورونه ترلاسه کړي و، چې له دې جملې څخه ۱۶۳ راپورونو د اعلام جرم لپاره لار هواره کړې او ټولټال ۷۲ نورو هغو د اعلام جرم په دننه کې قانون کارولی. د يوه کال وړاندې مودې د ۳۴ سلنې په پرتله، په ټولټال ۵۲ قضيو (۷۲ سلنه) کې سزاګانې اورول شوي.

۲۶. د ښځو د حقونو د فعالينو ساتنه د يوې جدي انديښنې په حيث په خپل ځای پاتې ده. د ډسمبر په ۹، د لغمان په ولايت کې د ښځو د چارو د رياست سرپرسته په يوه ډله ييز بريد کې ووژله شوه، دا په واک کې د پنځو مياشتو په ترځ کې دوهمه وژنه ده. د جنوري په ۱۵، د ملګرو ملتونو د وګړو وجهي صندوق، د جنډر د مساواتو لپاره د ملګرو ملتونو اداري او د ښځو د څواکمنتيا او د روغتيا نړيوال سازمان (WHO) د جنسيت د قربانيانو د درملنې او پاملرنې د ملاتړ لپاره د راجع کولو د سيستم د رامنځ ته کولو لپاره يو تفاهم ليک لاسليک کړ. دا په افغانستان کې د خپل ډول لومړنی پروګرام دی، په پلان شويو فعاليتونو کې د قضيې د مناسب مديريت او درملنې د پروتوکول په اړه په ۶ ولايتونو کې څيړنه، د ۲۰۱۴ کال تر پايه په ۳۴ ولايتونو کې د روغتيايي کارمندانو لپاره روزنه او يوځلي مرستې شاملې دي چې بايد د کابل، باميانو او ننګرهار د ولايتونه په روغتونونو کې و ازمايل شي.

۲۷.	د جنوري په ۲۰، یوناما "په افغان توقیف ځای کې د جګړې د اړوندو توقیف شویو سره د چلند تر سرلیک لاندې یو راپور خپور کړ: یو کال وروسته". په ټولټال ۸۹ افغان توقیف ځایونو کې د شخړې د اړوندو ټولټال ۶۳۵ توقیفیانو سره د مرکو پر بنسټ، چې ټولټال ۳۰ ولایتونو تر پوښښ لاندې نیسي، د دولت او نړیوالو همکارانو په ځانګړې توګه د ایساف لخوا د هڅو سربیره، په ګڼ شمیر توقیف ځایونو کې شکنجې شتون درلود. په شخړې پورې د اړوندو توقیفیانو د نیمایي څخه زیاتو هغو سره چې مرکه شوي ناوړه چلند او شکنجه تجربه کړې، په تیره بیا په ۳۴ بندیخانو کې چې د پولیسو او ملي امنیت د ریاست لخوا کنټرولیږي. د جنوري په ۲۲، ولسمشر د راپورته شویو اندیښنو د څیړلو په موخه د حقیقت موندلو یو هیئت رامنځ ته کړ. د فبروري په ۱۱، هیئت اعلان وکړ چې دوي د شاوخوا ۴۸ سلنه مرکه شویو توقیفیانو په دوسیو کې د توقیف او تحقیق په وخت کې د پولیسو او ملي امنیت د کارکونکو له خوا د توقیفیانو سره شکنجه او ناوړه جلند مشاهده کړی، پداسې حال کې چې دوه پر دریمه برخې مدافع وکیل ته هیڅ ډول لاسرسی هیڅ نه درلود. د فبروري په ۱۶، ولسمشر په توقیف مرکزونو کې د شکنجې او بد چلند د مخنیوي په اړه د هیئت د ۱۱ وړاندیزونو د پلي کولو لپاره یو فرمان صادر کړ.

۲۸.	د فبروري په ۱۹، یوناما په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د ۲۰۱۲ کال خپل کلنۍ راپور خپور کړ. راپو ر په ۲۰۱۲ کال کې ټولټال ۲۷۵۴ ملکي مړینې او ۴۸۰۵ ټپي کیدنې مستند کړې، دا د ۲۰۱۱ کال د ورته مودې په پرتله د ملکي تلفاتو په برخه کې ۴ سلنه کموالی ښيي – چې په لومړیو شپږو کلونو کې دا ډول لومړی کموالی دی. په دې ارقامو کې د وژل شویو ملکي کسانو په برخه کې ۱۲ سلنه کموالی شامل دی. دولت ضد عناصر د ټولټال ۲۱۷۹ ملکي مړینو او ټولټال ۳۹۵۲ ټپي کیدنو مسؤل دي، چې دا د ۲۰۱۱ د ورته مودې په پرتله ۹ سلنه زیاتوالی ښيي. دولت پلوه ځواکونه د ۳۱۶ مړینو او ۲۷۱ ټپي کیدنو مسؤل پاته شوي، دا د ۲۰۱۱ کال د ورته مودې په پرتله ۴۶ سلنه کموالی ښيي. په ټوله کې، دولت ضد عناصرو ته ۸۱ سلنه، دولت پلوه ځواکونو ته ۸ سلنه ملکي تلفات منسوب شوي او ۱۱ سلنه هغه بیا کومې خاصې ډلې ته نه دي منسوب شوي. د ټولټال ۸۶۴ تلفاتو (۳۰۱ مړه او ۵۶۳ ټپیانو ) په درلودلو سره، په ۲۰۱۲ کال کې د وژل شویو او ټپي شویو ښځو او نجونو شمیر ۲۰ سلنه زیات شوی. نور تمایلات چې د ملکي وګړو ساتنه اغیزمنه کوي د دولت پلوه ملیشو په ګډون، په ځانګړې توګه د هیواد په شمال او شمال ختیځ کې د غیرقانوني وسله والو ډلو ظاهري تکثیر او د دولت ضد ځواکونو لخوا د ملکي ځایونو مخ پر زیاتیدونکې په نښه کول شامل دي.

۲۹.	د نومبر له ۱ څخه د جنوري تر ۳۱ پورې، یوناما د ملکي کسانو ټولټال ۴۲۷ مړینې او ټولټال ۱۰۶۳ ټپي کیدنې مستند کړې، د یو کال وړاندې ورته ربعې په پرتله د ملکي تلفاتو په برخه کې ۷ سلنه کمښت ښيي. پدې ټولیزو ارقامو کې په مړګونو کې ۱۷ سلنه کموالی ښيې خو په ټپي کیدو کې کوم بدلون نه دی راغلی. دولت ضد عناصر د وژل شویو او ټپي شویو ملکیانو د ۸۱ سلنې، او دولت پلوه ځواکونو د ۷ سلنې مسؤل وو. د ملکي تلفاتو پاتې۱۲ سلنه هیڅ کوم اړخ ته نه شي منسوبیدلای؛ دا ډول تلفات په لومړي سر کې د ځمکنیو نښتو پر مهال د ډزو د تبادلې د پیښو، د پولې په اوږدو کې د ډزو یا د جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو له امله را منځ ته شوي.

۳۰.	د ماشومانو او وسله والو شخړو په هکله د نظارت او راپور ورکولو په اړه د ملګرو ملتونو په مشرۍ د هیواد کاري ځواک د نومبر د ۱ څخه د جنوري تر ۳۱ پورې، د پیښو ټولټال ۱۶۶ راپورونه ترلاسه کړي په کومو کې چې د ماشومانو د حقونو جدي سرغړونې شاملې دي. د ماشومانو ټولټال ۷۹ مړینې او ټولټال ۱۹۲ ټپي کیدنې تایید شوې. ډیری هغه په سویل او ختیځو سیمو کې را منځ ته شوي. د هغې ژمنې په شمول چې موخه یې د ماشومانو او وسله والې شخړې په اړه د وزارتونو تر منځ د رهبري کمیټې او تخنیکي کارې ډلې دایرول دي، د بهرنیو چارو وزارت د کم عمره ماشومانو د استخدام او د ماشومانو پر وړاندې د جنسي تاوتریخوالي او د ماشومانو د وژلو او معلولیت په اړه د هغې د ضمیمو د مخنیوي لپاره د عمل د پلان د پلي کولو لپاره قوي ملاتړ څرګند کړ.

۳۱.	د سولې په اړه د افغانانو د خبرو اترو دوهم پړاو، هغه نوښت دی چې رهبري یې د مدني ټولنې او ملاتړ یې د یوناما له خوا کیږي، چې د فبرورۍ ۱۳ پیل شو. د دې موخه دا ده چې د شخړې د بیلابیلو محلي عنصرونو د درک په اړه د مختلفو وګړو نظرونه روښانه کړي او د دوامدارې سولې لپاره احتمالي محلي کټلسټونه په ګوته کړي. تمه کیږي چې د راتلونکو لسو میاشتو په جریان کې به د ۳۴ ولایتونو د شاوخوا ۴۰۰۰ افغانانو سره د ۲۰۰ څخه د ډیرو متمرکزو ډلو سره خبرې اترې ترسره کیږي.

**څلورم: د کابل پروسې تطبيق او د پرمختيايي مرستو همغږي**

۳۲. حکومت او د هغه نړيوال همکاران د افغانستان په اړه د توکيو په کنفرانس کې د شويو ژمنو پلي کولو او نظارت کولو ته چې د ۲۰۱۲ کال په جولای مياشت کې ترسره شو دوام ورکوي. د دې لپاره چې دوامداره پرمختګ يقيني شي، بحث د توکيو د دوه اړخيزې حساب ورکونې د چوکاټ په اصلي عناصرو باندې په تحويل وړ سختو شيانو په نهايي کولو باندې متمرکز دی چې تمه کيږي په جولای کې د لوړ پوړو چارواکو د ناستې څخه وړاندې پلې شي.

۳۳. د فبروري په ۱۲، د همغږۍ او نظارت ګډ بورډ د ملي لومړيتوب څلور اضافي پروګرامونه تاييد کړل: اغيزمنه او مؤثره حکومتداري؛ اوبه او طبيعي سرچينې؛ ملي هر اړخيز کرنيز توليد او د بازار پراختيا؛ او د ملي انرژي تهيه کول. دا د ۲۲ هغو له جملې څخه، د تاييد شويو پروګرامونو ټوليز شمير ۲۰ ته لوړوي.

۳۴. له سختې ښکيلتيا وروسته، بورډ همداراز د مرستې د مديريت پاليسۍ، چې په توکيو کې د نړيوالې ټولنې يوه کليدي ژمنه ده تائيد کړه. دغه پاليسي يو پنځه کلن کاري چوکاټ چمتو کوي ترڅو د مرستو د اغيزمنتوب د اجنډا تحقق يقيني کړي، په بې ثباته هيوادونو کې د ښکيلتيا لپاره د نوې تړون سره په سمون کې، چې د مرستو د اغيزمنتوب په اړه د لوړې کچې په څلورمه ناسته کې پرې هوکړه وشوه کوم چې د ۲۰۱۱ کال د نومبر د ۲۹ څخه د ډسمبر تر لومړۍ نيټې پورې د کوريا د جمهوريت په بوسن کې ترسره شوه، او د بوديجې له لارې د تمويل او د ملکي خدمتونو لپاره د معاشاتو د موازې کچو په اړه د دولت د لومړيتوبونو سره همغږي ته رسيدګي کوي. ملګري ملتونه او نړيوال بانک د حکومتي کارکونکو هغمږي ته ځانونه ژمن ګڼي کوم چې په اوس حال د ملي تخنيکي مرستې لپاره د يوې حکومتي منل شوې کچې په واسطه د هغوي د تمويل له لارې د هغوي معاشونه تاديه کيږي. د معاشونو دغه پر مخ تللې صنف بندي به د ۶۰۰۰ او ۷۰۰۰ تر منځ کارکونکي متاثره کړي، او د پايلو د پروګرام لپاره د ظرفيت لوړولو د يوې برخې په توګه به په راتلونکو دوو يا دريو کلونو کې ترسره شي، د دې نوښت موخه د اوږد مهال دوامداره بنسټ په اړه د دولت د ظرفيت لوړول دي.

۳۵. د لا زيات روڼوالي او حساب ورکونې د يقيني کولو په خاطر، د مدني ټولنې د سازمانونو استازي د توکيو د دوه اړخيزې حساب ورکونې د چوکاټ تخنيکي او رهبري کميټو ته معرفي شوي. يوناما په کندهار او جلال آباد کې د پاليسۍ په خبرو اترو، او پرمختيايي پلان جوړونې او پلي کولو په برخه کې د ښکېلتيا په اړه د يو شمير ورکشاپونو له لارې د مدني ټولنې ملاتړ ته دوام ورکوي. په ښځو د ليږد د پروسې د احتمالي اغيزو په اړه د انديښنې په جريان کې، د ملګرو ملتونو د هيواد د کچې ټيم هم په دې غور کوي چې څنګه د توکيو په اعلاميه او د توکيو د دوه اړخيزې حسابورکونې په چوکاټ کې د جنډر د ژمنو په اړه د سيستماتيکې څارنې او راپور ورکولو څخه ملاتړ وکړي.

۳۶. د ډسمبر په مياشت کې، د ملګرو ملتونو د هيواد د کچې ټيم د پاليسۍ چوکاټ تاييد کړ چې څنګه د ملګرو ملتونو غوښتنو ته ځواب ووايي او هغه فعاليتونه چې پخوا د ولايتي بيارغونې د ټيمونو لخوا ترسره شوي بيرته پيل کړي. د قضيې - قضيې پر اساس يوازې د غوښتنونو په پام کې نيولو سره، پاليسۍ د ليږد د يوه اصلي اصل په توګه په افغان مشرتابه تاکيد کوي. په معيارونو کې دا شامل دي چې غوښتنه د افغانستان د دولت له اړخه راځي؛ دا چې فعاليتونه د مرستو د مديريت د پاليسۍ په شمول د افغانستان ملي لومړيتوبونه او پروګرامونه منعکس او تقويه کوي، او دا چې هغه د ملګرو ملتونو له اختياراتو او لومړيتوبونو او د زريزې پراختيايي اهدافو له لاسته راوړنو سره مطابقت لري او مرسته کوي. د ملګرو ملتونو ادارې بايد د رامنځ ته شويو پراختيايي او بشردوستانه اصولو سره سم د مرستې رسولو وړتيا وساتي.

۳۷. د فبروري په ۱۳، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ادارو، وجهي صندقونو او پروګرامونو د مشرانو او د افغانستان د اړوندو وزارتونو د کلنۍ دوهمې ناستې ګډه مشري د بهرنيو چارو وزير او زما ځانګړي استازي په ګډه وکړه. غونډې د ليږد او د "بدلون د لسيزې (۲۰۱۵-۲۰۲۴)" له لارې د اړيکو مجدده جهت ګيري تاييد کړه. د بهرنيو چارو وزير، زلمي رسول يادونه وکړه چې افغانستان د ملګرو ملتونو د کمې ښکيلتيا نه، بلکه د يوې بيلې

او متفاوتي ښکيلتيا تمه لري. د ملګرو ملتونو د ښه نيت د هڅو دفترونه بايد له دوديز رول څخه د افغانانو تر مشرۍ لاندې د سياسي بهيرونو لا تخنيکي ملاتړ کولو او د افغان بنسټونو د ظرفيت لوړولو په لور حرکت وکړي. په پرمختيايي همغږۍ، پرمختللي ادغام او د خدمتونو په قوي تحويل باندې د ملګرو ملتونو تمرکز يو له مهمو هغو څخه دی.

۳۸. د جنوري له ۲۲ څخه د فبروري تر ۲ پورې، د پيسو نړيوال صندوق د کابل څخه د بياکتنې ماموريت ترسره کړ. د بياکتنې عناصرونه، په ځانګړې توګه د بانکي نظارت او اصلاحاتو تقويه کول، د توکيو د دوه اړخيز حسابورکونې د چوکاټ لپاره مهم دي. هغه مهمې کړنې چې د اپريل په مياشت کې د وجهي صندوق د اجراييوي بورډ د ناستې څخه دمخه د حکومت لپاره د پلي کولو په موخه پيژندل شوي په هغو کې د بانکدارۍ ، د پيسو د مينځلو پر وړاندې، او د ارزښت د اضافه شوې ماليې په اړه د قوانينو د جوړونې ارګان ته سپارل شامل دي. تمه کيږي وروستی ذکر شوی ۲ تر ۳ سلنه ناخالص کورنی توليد به د حکومت د بوديجې په برخه کې خورا زياته مرسته وکړي.

## پنځم. حکومتولي او د قانون حاکميت

۳۹. د جنوري په ۸، د ۶۰ ولسوالانو او ۱۷ ولايتي مرستيالانو د ګمارلو ټاکنې اعلان شوې. د ټولټال ۳۶۴ ولسوالانو له جملې څخه د نيمايي څخه زيات هغه او ۳۴ ولايتي مرستيالان او ۳۲ ولسوالان د وړتيا پر بنسټ د ګمارنې د پروسې له لارې غوره شوي. د ګمارنې په وروستي پړاو کې د جوزجان ولايت د فيض آباد په ولسوالۍ کې د هيواد لومړۍ ښځينه ولسواله، سياره شکيب سادات هم شامل وه.

۴۰. د ډسمبر په ۱۱، د سيمه ييزې حکومتدارۍ د همغږۍ غونډې د محلي حکومتدارۍ د ملي لومړيتوب د پروګرام په پلي کولو باندې بحث وکړ. د سيمه ييزو ارګانونو د خپلواکې اداري او يوناما تر ګډې مشرۍ لاندې، او د ماليې، اقتصاد، ښاري پلان جوړونې، کليو د بيارغونې او پراختيا د وزارتونو او د تمويلوونکو مرستندويانو په ګډون، په دې غونډه کې د ولايتي بيارغونې د ټيمونو د بنديدو له امله د مرستو په برخه کې د يو لړ مسايلو، د بيلګې په توګه، د احتمالي تشو په اړه بحث وشو. ياد رياست عمومي رياست د سرچينې د يوې وسيلې څخه پرده پورته کړه چې موخه يې د لومړيتوب د پروګرام د تحويل وړ شيانو، سرچينې او ظرفيت د اړتياوو په اړه د معلومات وړاندې کول دي، چې په اوس حال کې په ښه توګه تنظيم شوي او په معلوماتو سمبال دي. د ملي لومړيتوبونو د دوو پروګرامونو له جملې څخه چې بايد نهايي شي، د جنوري په ۹ د ټولو لپاره د قانون او عدالت په اړه يوه نوې مسوده وويشله شوه، پداسې حال کې چې د روڼتيا او حساب ورکونې په اړه پروګرام خورا ستونزمن ثابتيږي، دې ته په پام سره چې مرستندويان د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د پرمختګ په اړه انديښنې لري. له تصويب څخه وړاندې د پلي کيدو لپاره په څلورو اقداماتو موافقه وشوه: د لوړ پوړو چارواکو د شتمنيو تاييد، د تفتيش په اړه تصويب شوي قوانين، عامه معلوماتو ته د لاسرسي په اړه د قانون تصويب، او د ساختماني جوازونو ساده کول.

۴۱. د فبروري په ۷، د مخدره توکو او جرمونو لپاره د ملګرو ملتونو د دفتر (UNODC) سره، د نظارت او فساد پر وړاندې عالي دفتر، په افغانستان کې د فساد په تړاو د وروستيو نمونو او رجحاناتو په اړه يوه سروې خپره کړه. په ۲۰۱۲ کال کې دولتي چارواکو ته تاديه شوې ټولې بډې ۳.۹ مليارد ډالر اټکل شوې وې، دا په ۲۰۰۹ کال کې د تيرې سروې راهيسې په ريښتيني شرايطو کې ۴۰ سلنه ډيروالی ښيي.

۴۲. د فبروري په ۵، د مرکزي زندان د رياست مشر د زندانونو ۹۹ عملياتي لارښود لاسليک کړل چې موخه يې د زندانونو د سمې اداري او مديريت يقيني کول دی. د فبروري په ۲۰ او ۲۱، د جزا د قانون د اصلاح کاري ډلې د ښځو انجمن يو دوه ورځنی ورکشاپ داير کړ، چې ملاتړ يې د يو اين وومن(UN-Women) او يوناما لخوا کيږي، د جزا د قانون په اصلاحاتو کې د ښځو د مسلو په اړه او په کاري ډله کې د ښځو په زيات ګډون تمرکز کوي. د محبس د کاري ډلې تر نظر لاندې، د کوم ملاتړ چې يوناما کوي، د کورنيو چارو او عامې روغتيا وزارتونو يو تفاهم ليک را منځ ته کړ چې د کورنيو چارو د وزارت څخه د عامې روغتيا وزارت ته په زندانونو کې د روغتيايي خدمتونو

د وراندې کولو مسؤلیت لیږدوي ترڅو بندیانو ته د روغتیايي خدمتونو په رسولو کې د تخصص د اړتیا وړ کچې څخه ډاډ ترلاسه کړي.

**شپږم. پراختیا او بشري مرستې**

۴۳. د جنوري په ۲۳، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمشنر د دفتر (UNHCR) سره په ګډه د افغانستان، ایران د اسلامي جمهوریت او پاکستان دولتونو د وزارتي کچې یوه څلور اړخیزه ناسته په ابوظبی کې جوړه شوې وه ترڅو د افغان کډوالو لپاره د حل لارې د ستراتیژۍ د پلي کیدو نظارت وکړي ترڅو د داوطلبانه بیرته ستنیدنې او دوامداره بیا یوځای کیدنې سره مرسته وشي او همداراز د کوربه هیوادونو سره مرسته وشي. د حل لارې په ستراتیژۍ باندې زما د چوکاټ په زمینه کې د شخړې نه وروسته حالت کې د بې ځایه کیدنې د پای ته رسیدو په اړه بحث وشو، کوم چې په افغانستان کې په ازمایښتي ډول پیل شوی و. د دولت-ملګرو ملتونو د سرچینو د تحقق په یوې ګډې ستراتیژۍ هم موافقه وشوه. په ۲۰۱۲ کال کې شاوخوا ۹۵۰۰۰ راستنیدونکي افغانان په خپله خوښه ستانه شوي چې دا د ۲۰۱۱ کال په پرتله ۳۹ سلنه ډیروالی ښيي. د افغانستان د حل لارو د ستراتیژۍ اساس د بشری او پراختیایي مرستو تر منځ د اړیکو په پیاوړتیا متمرکز دی. د افغانستان حکومت، چې ملاتړ یې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر له خوا کیږي، د داخلي بې ځایه شویو خلکو په اړه د ملي پالیسۍ نهایي کولو ته لومړیتوب ورکړی دی، چې موخه یې د بې ځایه شویو خلکو ساتنه او ملاتړ کول دي، پایښت لرونکي حل لارې ومومي او د نورو بې ځایه کیدنوڅخه مخنیوی وکړي.

۴۴. نږدې ۳ میلیونه افغان کډوال په پرله پسې توګه د ایران په اسلامي جمهوریت او پاکستان کې ژوند کوي، له هیواد څخه په دومره لوی شمیر کې د کډوالو اوسیدنه په نړۍ کې د کډوالو تر ټولو غځیدلی حالت دی. د دوامداره راستنیدنې په وړاندې په خنډونو کې نا امني او بنسټیزو خدمتونو، روغتیايي پاملرنې، تعلیم او معیشت ته د لاسرسي نه شتون شامل دی. د ډسمبر په ۷ او ۸، په لاهور کې د افغانستان او پاکستان حکومتونو موافقه وکړه چې د شناختي کارتونو موده د شپږو میاشتو لپاره وغځوي. د جنوري په ۱۵ او ۱۶، په تهران کې د افغانستان د حکومت او د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ د دفتر(UNHCR) سره د درې اړخیزې ناستې په جریان کې، د ایران د اسلامي جمهوریت حکومت د نورو کډوالو د بیرته ستنیدو د هڅونې په موخه نوې لارې چارې وړاندې کړې. د داخلي شخړو له امله د بې ځایه کیدنو شمیر ټولټال ۵۰۰۰۰۰ ته رسیږي، چې ۸۵ سلنه یې د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۲ کلونو تر منځ بې ځایه شوي وو. په ۲۰۱۲ کې له ۹۴۰۰۰ څخه ډیر خلک نوي بې ځایه شوي وو.

۴۵. د واکسیناسیون د لوړې کچې د کمپاین دوهم پړاو چې د بشردوستانه همکارانو لخوا ترسره شو او ملاتړ یې د روغتیا د وزارت لخوا وشو د ۲۰۱۲ په ډسمبر کې بشپړ شو. تر دې دمه یې د شړې د ټولټال ۴۰۰۰۰ قضیو او نږدې ۲۰۰۰ مړینو مخنیوی کړی. د ټولټال ۹۴ سلنې تر هدف لاندې ماشومانو په واکسین کولو سره، د یاد کمپاین لپاره لاسرسی عموما ښه و. په هرصورت، په ۸۶ ولسوالیو کې د نا امنیو له امله پوښښ له ۸۰ سلنې څخه ښکته وه.

۴۶. د مړینې او ناروغۍ د کمولو؛ له بې ځایه شویو، راستنیدونکو او کوربه ټولنو سره د مرستې کولو؛ او د ډیرو زیان منونکو خلکو لپاره د معیشت د احیا کولو په تعقیب، د ۲۰۱۳ کال د بشردوستانه عمل ګډ پلان چې د ډسمبر په ۱۴ نیټه خپور شو، د ملکي وګړو ساتنه د یوه مهم لومړیتوب په حیث پیژني. د اړتیاوو او زیانمنې شاخص کندهار، هلمند، ننګرهار، غزنی او کنړ ولایتونه د هغو په حیث ارزولي چې تر ټولو زیاتې اړتیاووې یې تجربه کړي. د هیواد په سویل او ختیځ کې د بشري لاسرسي او تحویل پراخول په ۲۰۱۳ کې یو لوی تمرکز و او هم به همدا شان دوام ومومي. د ۲۰۱۱ څخه تر ۲۰۱۲ پورې افغانستان ته د بشري مرستو مجموعه ۵۰ سلنه راټیټه شوې، او په ۲۰۱۲ کال کې همغږي شوي درخواست د ارزول شویو اړتیاوو یوازې ۴۸ سلنه ترلاسه کړې. د اضطراری واکنش مرکزی وجهي صندوق د ۲۰۱۳ کال په پیل کې بیا فعال شو تر څو هغو فعالینو ته چې جګړې ځپلو خلکو ته کوم چې شدیدې اړتیاووې لري سرچینې چینل او تنظیم کړي. د جنوري په میاشت کې د ۵.۹

میلیون ډالرو په پرانیستي بیلانس سره، د ۲۰۱۳ کال لپاره د تمویل هدف د ۱۰ میلیون او ۱۵ میلیون ډالرو ترمنځ دی.

۴۷. د راپور ورکولو د مودې په جریان کې، د ځمکنیو ماینونو د پاکولو چارې چې د ملګرو ملتونو د ماین پاکۍ د خدمونو د ادارې لخوا همغږې شوې، د ماینونو ټولټال ۲۳۵ سیمې د ماینونو د خطر څخه پاک کړې، چې د ټولټال ۲۰ کیلومتره تولیدي ځمکې د کارولو لپاره لار برابروي. نورې ۲۱ ټولنې د ماینونو د خطر څخه پاکې شوې دي، چې په مثبته توګه ټولټال ۴۶۰۰۰ ملکي افغانان اغیزمن کوي. یوناما او د ماین پاکۍ نورو شریکانو په جنوري کې د ماین پاکۍ د قانون په اړه له حکومت سره قانون کار پیل کړ.

۴۸. راتلونکی شپږ میاشتې به د ګوزڼ د له منځه وړلو لپاره مهمې وي. د ګوزڼ د له منځه وړلو نړیوال نوښت په دې باور دی چې که چیرې د اضطرار ملي عمل پلان په کار واچول شي، نو د ویروس د جریان مخنیوی کیدای شي. د ټولنو سره نږدې ښکېلتیا، د معلوماتو ښه را غونډول او د هغو ماشومانو تعقیب او مالومول چې د نه لاسرسي له امله له واکسین څخه پاته شوي، له واکسین څخه د پاته شویو ماشومانو په برخه کې د چټک کمښت لپاره لار هواره کړې. د ۲۰۱۱ د ۸۰ هغو په پرتله، افغانستان د ۲۰۱۲ کال په اوږدو کې د ګوزڼ ۳۷ پیښې ثبت کړې. د ډسمبر په میاشت کې د دوو قضیو د تشخیص، په ختیځ او سویل ختیځ کې د وحشي پولیو ویروس د کشف او په جنوب کې د واکسین څخه د ترلاسه شوې پولیو ویروس په موندلو سره، د روغتیا د نړیوال سازمان په ملاتړ د عامې روغتیا وزارت په ډسمبر او جنوري میاشتو کې د قضیې د غبرګون کمپاینونه هڅولي. د وزارتونو تر منځ لومړني کاري ځواک، چې د نظارت د کلیدي میکانزمونو څخه یو دی او په ملي اضطراري کاري پلان کې یې وړاندیز شوی، د ډسمبر په ۱۱ غونډه وکړه. د فبروري له ۱۰ څخه تر ۱۲ پورې، په محلي کچه د کال د معافیت ورځې ترسره شوې.

۴۹. د جنوري په ۱، د افغانستان د چاپیریال ساتنې ملي ادارې او د ملګرو ملتونو د چاپیریال پروګرام د اقلیم د بدلون د تطابق یوه پروژه پیل کړه – چې د لویو نوښتونو څخه یوه هغه ده چې د لږ پرمختللو هیوادونو د وجهې صندوق ملاتړ ترلاسه کړې. دې پروژې د اقلیم د بدلون د تطابق، معیشت او د ناورین د خطر د کمولو تر منځ د اړیکو د ټینګولو له لارې په پنجشیر، بلخ، ارزګان او هرات ولایتونو کې د ټولنو د ځواکمنتیا په پیاوړتیا تمرکز وکړ. په ملي کچه، د چاپیریال ساتنې د ملي ادارې لپاره د اقلیم د بدلون د ستراتیژۍ د چوکاټ د چمتو کولو لپاره ملاتړ چمتو شوی و. په افغانستان کې د یوې ملي محافظتي ساحې د سیستم پراختیا چې موخه یې د زیست د تنوع او د ایکوسیستم د دندو او د ایکولوژۍ له لحاظه په مهمو سیمو کې د انعطاف پذیري څخه د ډاډ حاصلول دي، هم تر کار لاندې ده.

**اووم. د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه**

۵۰. د جنوب، لویدیز، مرکز او ختیځ لپاره د تریاکو د خطر د ارزونې د ۲۰۱۳ کال لومړنۍ پایلې، چې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د وزارت او د مخدره توکو او جرمونو لپاره د ملګرو ملتونو د دفتر لخوا چمتو شوې، په پرله پسې توګه د دریم کال لپاره د کوکنارو د کښت په برخه کې زیاتوالی په ګوته کوي. د هلمند، کندهار، فراه، ارزګان، ننګرهار، غور، زابل او کاپیسا ولایتونه - چې په زیاته پیمانه تریاک پکې کرل کیږي – د کښت په برخه کې زیاتوالی په ډاګه کړی، په هرات کې د کمښت تمه کیږي او د ډایکندي، نیمروز، بادغیس، لغمان، کنړ او کابل ولایتونو لپاره د کوم لوی بدلون اټکل نه کیږي. د غزنی، خوست، لوګر، پکتیکا، پکتیا، پنجشیر، پروان، میدان وردګو او نورستان په ولایتونو کې کوکنار نه دي کرل شوي. د کښت او حاصلاتو د بیلابیلو فصلونو په نظر کې نیولو سره، د شمالي ولایتونو لپاره ارزونه به وروسته په راتلونکي کې خپره شي.

۵۱. د کیمیاوي پریکرسرونو د مخنیوي لپاره، د سیمه ییزو استخباراتو یوه نوې کاري ډله جوړه شوې ترڅو د قاچاق د قضیو بیاکتنه وکړي، تمایلات وپېژني او د اصلاحي اقدامونو سپارښتنه وکړي. د جنوري له ۲۱ څخه تر ۲۳ پورې، په الماتي کې د مرکزي آسیا د سیمه ییزو معلوماتو او انسجام مرکز د یوې غونډې کوربه توب وکړ چې د مخدره توکو د کنټرول نړیوال بورډ او د مخدره توکو او جرمونو لپاره د ملګرو ملتونو د دفتر کارپوهانو پکې

برخه اخيستې وه. دې ناستې په ځانګړې توګه په ۲۰۱۲ کې په افغانستان کې د ټولټال ۱۱ ټنو اسيتيک انهايډرائيډ په ضبطولو تمرکز کړی و، چې د هدف لرونکو هيوادونو افسران د شبکو او لارو د پېژندلو لپاره په ګډه کار کوي.

۵۲. د جنورۍ په ۲۵، د استانبول د پروسې له مخدره توکو سره د مبارزې د اعتماد جوړونې د کچې په اړه ناسته په باکو کې ترسره شوه او وريسې د لوړ پوړو چارواکو په ناسته کې د هغې د پلي کولو پلان تاييد شو. د جنورۍ په ۳۰، د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د همغږۍ او نظارت د ګډ بورډ د نظارت کولو ميکانيزم غونډه وکړه او د ملي لومړيتوب د پروګرامونو بياکتنه او تحليل يې تاييد کړ. هوکړه وشوه چې ميکانيزم به د پروګرام د ګروپي مشرانو سره له نږدې کار وکړي ترڅو د مخدره توکو پر وړاندې وړانديز شوي معيارونو تصحيح کړي او اصلي جريان يقيني کړي.

### اتم. د ماموريت ملاتړ

۵۳. د ډسمبر په ۲۴، د ۲۰۱۳ کال د ټولټال ۱۹۶۲۳۱۴۰۰ ډالرو بوديجه - د ۲۰۱۲ کال د ارقامو په پرتله ۱۸.۷ سلنه کمښت - د پنځمې کميټې لخوا تصويب شو. د ۱۹۱،۸۱۵،۷۰۰ ډالرو تخصيص د جنورۍ له ۱ څخه د ډسمبر تر ۳۱ پورې صادر شوی. ياد سازمان به د کال په اوږدو کې تر هغې اندازې پورې ارزونه وکړي چې د بوديجې پاتې توازن منتشر شي. د ۲۰۱۲ د ډسمبر په پای کې، د بوديجې کمونې سره سم، ټولټال ۶۳۱ پوستونه (۸۱ نړيوال او ۵۵۰ داخلي)، ډيری يې د نهو ولايتي دفترونو د تړلو له امله لغوه شوي. د ماموريت د ملاتړ دوهمه پړاخه بياکتنه به په دې موخه ترسره شي ترڅو په ټول هيواد کې د کارمندانو د کچې او ملاتړ په جوړښتونو غور وکړي. د ماموريت د اوسنيو تشو پوستونو کچه پنځه سلنه (د نړيوالو کارمندانو لپاره ۱۴ سلنه او د داخلي کارمندانو لپاره ۲ سلنه) ده.

۵۴. د ډسمبر په ۱۱، د نړيوال ساحوي ملاتړ د ستراتيژۍ سره سم د کويټ د ګډ ملاتړ دفتر په کار پيل وکړ چې په جغرافيايي مجاورت کې د ماموريتونو تر منځ په پر مختللو همکاريو ټينګار کوي. د کويټ ودانۍ د يوناما او د عراق لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندويه پلاوي له خوا کارول کيږي تر څو د مالي چارو او بشري سرچينو د مديريت په اړه د لرې واټن له لارې ملاتړ چمتو کړي. سربېره پردې، په سيمه ييزه کچه، يوناما په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د عملياتو د تحکيم او پياوړي کولو لپاره د ادارو، وجهي صندوقونو او پروګرامونو سره د نږدې ۹ ميليون ډالرو په ارزښت د لګښت د شريکولو يو شمير تړونونه لاسليک کړل. د دغو له جملې څخه تر ټولو مهم هغه د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام، د ملګرو ملتونو د ماشومانو د وجهي صندوق (يونسيف)، د جندر د مساواتو او د ښځو ځواکمنتيا لپاره د ملګرو ملتونو د ادارې، د پروژوې خدمتونو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر، د ملګرو ملتونو د وګړو د وجهي صندوق او د روغتيا د نړيوال سازمان سره، کوم چې په کابل - افغانستان کې د ملګرو ملتونو د عملياتو په مرکز کې تاسيسات شريکوي، د ټولټال ۷ ميليون ډالرو په ارزښت د مشترکو خدمتونو هوکړه وه.

۵۵. د جنورۍ په ۳۰، يوناما د باميانو د خپل سيمه ييز دفتر نوې ودانۍ پرانيستله. د يوناما ټول نړيوال پرسونل اوس مهال په هغه ودانيو کې ژوند کوي چې د ملګرو ملتونو د لږ تر لږه عملياتي امنيتي معيارونو سره سم دي کوم چې د ماموريت لخوا چمتو شوي. په کندز کې د سيمه ييز دفتر د امنيت د ښه کولو په موخه، يوناما د افغانستان، المان او هالنډ د حکومتونو له استازو سره له وړاندې د موجودو، خوندي ودانيو د کارولو په اړه په ابتدايي خبرو اترو کې ښکيله ده.

### نهم. ملاحظات

۵۶. د راپور ورکولو موده د همزمانه امنيتي، سياسي او اقتصادي انتقال لپاره چې د ۲۰۱۴ کال لپاره لار هواروي د مرحلې د ټاکلو په برخه کې خورا مهمه ده. دا هڅې به د راتلونکې ثبات د را منځ ته کولو په برخه کې مرسته وکړي، افغان منتخب مشرتابه او قوي بنسټونه به وکولای شي د مهمو عناصرو په توګه خلکو ته خدمتونه

وړاندې کړي. د افغانستان د حکومت او نړیوالې ټولنې ترمنځ اړیکې تر بیا کتنې لاندې دي، او د دوامدارو دوه اړخیزو ژمنو پر وخت اطاعت د باور او همغږۍ د یقیني کولو لپاره مهم دی. ملګرو ملتونو هم د انتقال د ملکي اړخونو د ملاتړ په برخه کې او همدارز له ۲۰۱۴ کال نه وروسته موده کې د ثبات او پرمختیایي هڅو په برخه کې په مرستې کولو سره د خپل نقش په منعکسولو پیل کړی دی.

۵۷. افغانستان به وکولای شي هغه ثبات، وده او سوکالۍ ترلاسه کړي چې خلک یې د ترلاسه کولو هیله لري، او مستحق یې دي، یوازې که چیرې هلته سوله موجوده وي. په هرصورت، د پخلاینې په اړه تمې باید ریښتینې وي. د درې لسیزو شخړو وروسته، به خنډونه او غلط فهمي رامنځ ته شي. د بریا په یقیني کولو کې، عمومي پروسه د افغانانو لخوا رهبري او مالکیت لري او لا ډېر انسجام او همغږۍ ته اړتیا ده. د یوه لا زیات رسمي مسیر چې تمرکز یې د سولې د عالي شورا او د طالبانو د صلاحیت لرونکو همکارانو په اړه دی، په تیرو څو میاشتو کې د دولت لخوا د تمرکز په برخه کې د پام وړ بدلون لیدل شوی. یوناما د اعتماد او باور جوړونې د تدبیرونو د ترویج چارو ته ادامه ورکوي، تر څو د دولت هڅې پر مخ بوزي، شورا او سیمه ییزو همکاریو ته د ملاتړ د چمتو کولو له لارې او په شمول، د بندیزونو د رژیم په اړه ښکېلتیا او د راتلونکو لرلیدونو په اړه د ټول هیواد په کچه د ټولشموله بین الافغاني خبرو تسهیل.

۵۸. لکه څنګه چې په پراخه کچه، د اوږد مهاله دوام او ثبات لپاره مخ پر زیاتیدونکې سیمه ییزې همکارۍ مهمه ده، د سولې د هڅو لپاره د پاکستان د ملاتړ ستاینه کیږي. د خپلو ګاونډیانو سره د افغانستان اړیکې ورځ تر بلې مهمې کیږي، په داسې حال کې چې نور نړیوال فعالین خپلې هڅې را کموي. د اعتماد جوړونې د شپږو اقدامونو لپاره د تطبیق د پلانونو په تصویبولو سره د استانبول د پروسې په حواله، حرکت دوام لري. ملګري ملتونه د دغو له جملې څخه په هر یوه هغه کې ښکیل دی او په اړوندو تخنیکي ګروپونو کې برخه اخلي.

۵۹. افغان سیاسي مشران به اړتیا ولري چې په نږدې راتلونکې کې یو لړ حیاتي پریکړې وکړي، کوم چې به د راتلونکو ټاکنو لپاره لحن او چوکاټ وټاکي. د یوې شفافې او مشارکتي پروسې له لارې د یوه اعتبار وړ ټاکنیز چوکاټ پر وخت پرمختګ د توکیو د دوه اړخیز حساب ورکونې تر چوکاټ لاندې د حکومت د کلیدي ژمنو څخه یوه هغه ده. دا باید په ټاکنو پورې د اړوند قانون په تصویب باندې متمرکز وي. سیاسي ډاډ او په وخت سره عملیاتي پلان جوړونې او چمتووالي ته د اړتیا په پام کې نیولو سره، زه په اندیښنې سره د قانون جوړونې د اوسني احتمالي بن بست په اړه یادونه کوم. د رایې ورکولو څخه دمخه د هغه څه په اړه پراخ پیر چې د "لوبې قواعد" وبلل شي د پروسې د مشروعیت په برخه کې یو مهم عنصر دی او زه ټول افغان ښکیل اړخونه دې ته هڅوم چې په رغنده توګه ښکیل شي. د ټاکنیز مدیریت او د شخړو د هواري د ارګانونو ریښتیني او درک وړ خپلواکي، وړتیا او بې طرفي به د نهايي پایلو د منلو د ډاډ ترلاسه کولو په برخه د لمس وړ یو سیاسي ازمایښت وي. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د رییس ټاکل د هغه د اوسنۍ کاري دورې له پای ته رسیدو وروسته - او په دې اړه پریکړې ته د رسیدو لپاره مشورتي پروسه به خورا مهمه وي. د افغانستان د اساسي قانون لاندې مکلفیتونه او نړیوال مکلفیتونه چې د رایې ورکوونکو او کاندیدانو په توګه د ښځو ګډون ډاډمن کړي هم مهم دي.

۶۰. د بریښنایي تذکرې هڅه یو مهم ملي بهیر دي او ملاتړ یې باید د نړیوالې ټولنې په واسطه وشي او ممکن د ټاکنیز چمتوالي سره مرسته وکړي. د رای ورکولو د ثبت د زړو کارتونو په کارولو سره او په تقویتي تمرین سره تمه کیږي چې اضافي کارتونه ګډولې ته وراضافه کړي، او د دې په نظر کې ساتلو سره ښايي د ۲۰۱۴ کال تر ټاکنو پورې پروژه بشپړه نه شي، شونې نه ده چې د ټاکنو لپاره د رایو د تشخیص په موخه د پام وړ ښه والی را منځ ته شي. د دې په خاطر چې د ټاکنو د مناسب کیفیت او منلو څخه ډاډ ترلاسه شي، تمرکز باید اوس په زیاتیدونکې توګه، د بهتر شوې ټاکنیزې ادارې او د تقلب د پیشرفته مخه نیولو او مخنیوي، پرته له دې چې لید لوری له لاسه ورکړل شي، د ټولشموله او پراخ ګډون پر اړتیا د تاکید په شمول نور مهم تخنیکي چمتوالی په بر کې ونیسي. په سیاسي لحاظ، د رایې ورکوونکو د نوم لیکنې په اړه د پریکړې نیولو بهیر د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د خپلواکۍ ادراک ته زیان رسونکی و. د قواوو د تفکیک او د مختلفو ادارو د ورکړل شوي واک په رسمیت پیژندل او درناوی خورا مهم دی.

۶۱. د توکیو د دوه اړخیزې حساب ورکونې چوکاټ د حکومت او نړیوالې ټولنې ترمنځ د همغږۍ او انسجام لپاره مرکزي چوکاټ دی. د دې ژمنو په محور کې نه یوازې د ټولشموله او رڼو ټاکنو ترسره کول بلکه همداشان د ټولو افغانانو د بشري حقونو، په ځانګړې توګه د ښځو او ماشومانو د حقونو تحقق، ښه حکومتولي او له اداري فساد سره د مبارزې هڅې او د ټولو له خوا لا زیات مالي شفافیت او حساب ورکونه هم شامه ده. ملګري ملتونه په افغانستان کې دغو موخو او مکلفیتونو ته د رسیدو لپاره د اداري ظرفیت پیاوړې کولو ته ژمن دی. زه د مرستې د مدیریت د پالیسۍ او څلور نورو ملي لومړیتوب لرونکو پروګرامونو د ګډ تایید هر کلی کوم، کوم چې د ملګرو ملتونو په ګډون، د دولت د لومړیتوبونو سره سم د تمویل کونکو د سرچینو او پروګرام جوړونې د لا منطقي تخصیص لپاره زمینه برابروي. د ملي لومړیتوبونو د پروګرام په کچه د مخدره توکو پر وړاندې د څارنې میکانیزم کار د ډاډ د ترلاسه کولو په برخه کې مهم دی چې په زیاتیدونکي ډول د دې ناورین سره د یوه متقاطع روش له لارې مقابله کیږي. په افغانستان کې د تیرو لسیزو په ترڅ کې د میرمنو له خوا تر لاسه شوي لاسته راوړنې باید خوندي شي ترڅو دوامداره سیاسي، اقتصادي او ټولنیز پرمختګ ته وده ورکړي. ځکه نو زه له همدې امله د هغو هڅو ملاتړ کوم ترڅو د چوکاټ په پلي کولو کې د جنډر د اغیزو د سیستماتیکې څارنې څخه ډاډ یقیني کړي.

۶۲. زه د دې اعلان په کولو سره چې د جولای په دریمه به په کابل کې د لوړ پوړو چارواکو غونډه جوړه شي چې موخه یې د توکیو د ژمنو د پلي کولو بیاکتنه ده، خوښ یم. پرمختګ د دولت او نړیوالې ټولنې ژورې ښکېلتیا ته اړتیا لري، په داسې حال کې چې دوي د پروسې د مسیر موندنې د مسلې څخه د مهمو مسلو او د تحویل وړ شیانو په لور حرکت کوي ترڅو د دې ژمنو د پوره کولو په برخه کې پرمختګ په ګوته کړي. زه د جولای په میاشت کې د توکیو د دوه اړخیزې حساب ورکونې د چوکاټ د بلند پروازانه اهدافو د تحقق په لور د لومړنیو ځانګړو ګامونو په توګه د هغو تحویلي ته سترګې په لار یم. دا یقیني کول چې د پیسو د نړیوال صندوق د اصلاحاتو پروګرام په خپل مسیر کې قرار لري هغه اړخ دی چې د حکومت هڅو ته اړتیا لري. د عدالت، رونوالي او حسابورکونې په اړه د ملي لومړیتوب دوه پاتې پروګرامونه باید محاسبه شي ترڅو هغه ژمنې جوتې کړي چې موخه یې د پراخ اداري فساد پر وړاندې د مبارزې پر مخ وړل دي کوم چې د هیواد سیاسي، اداري او ټولنیز جوړښت له خطر سره مخ کوي. قاطع اقدام چې قوي قضایي سکتور ته لار هواروي په چوکاټ کې د حکومتدارۍ د اجنډا لپاره مهم دی.

۶۳. په شپږو کلونو کې د لومړي ځل لپاره د ملکي تلفاتو په برخه کې کمښت یو ښه خبر دی. په هرصورت، د شخړې انساني بیه د نه منلو دی. د دولت ضد عناصرو لخوا د ملکي وګړو د عمدي په نښه کولو په برخه کې له حده ډیر زیاتوالی چې د دولت د ملاتړ ګمان پرې کیږي، په عامه ځایونو کې بې توپیره بریدونه او د ځانمرګي برید کونکو په توګه د ماشومانو کارول د نړیوال قانون څخه جدي سرغړونې دي. حکومت د توقیفیانو سره د شکنجې او ناوړه چلند په اړه د یوناما د راپور په اړه په چټک او رغنده ډول عکس العمل ښودلی. د ولسمشر هغه فرمان چې د حقایقو د موندلو د هیئت وړاندیزونه پلي کوي باید اوس عملي شي ترڅو داسې کړنو ته د پای ټکی کیښودل شي. د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون په پلي کولو کې هم یو څه پرمختګ شوی، خو د دې سریېره لا هم ژورې ننګونې په ځای پاتې دي.

۶۴. افغانستان په یوه اوږدمهاله بشري بحران کې قرار لري. شخړه، طبیعي خطرونه، مزمن فقر او نه پرمختیا لا هم ستر ګواښونه پیښوي. د شخړو له امله د داخلي بې ځایه شویو کسانو شمیر مخ په ډیریدو دی، ډیری راستنیدونکي کډوال دوامدارې بشري مرستې ته اړتیا لري او طبیعي آفتونه هرکال په سلګونو زره افغانان متاثره کوي. بشري لاسرسی سترې ننګونې وړاندې کوي. د لیرد د بهیر اقتصادي اغیزې کولای شي په چټکې سره د بشردوستانه تمویل په کمیدو سره لا له وړاندې په ډیرو زیان منونکو خلکو باندې نور فشار راوړي. دا یو لومړیتوب دی چې د مرستو او خدمتونو د زیات لاسرسي څخه اطمینان حاصل شي او د اوسنیو او راتلونکو بشري اړتیاوو د پوره کولو لپاره د تمویل کونکو دوامداره ملاتړ ته اړتیا ده.

۶۵. په تیر کال کې د بودیجې د کمولو چارو د ماموریت په شکل او وړتیا د پام وړ اغیزه کړې چې ټولې ورسپارل شوي دندې او فعالیتونه په مساوي توګه وسپاري. نوي، لا انعطاف منونکې کاري میتودونه د جوړیدو په حال کې دي تر څو د لاسرسي ځینې کچې وساتي، حتی په هغو ځایونو کې چیرې چې نور هلته یوناما دایمي شتون نه لري. پدې کې د یوناما لخوا د ملګرو ملتونو د نورو ادارو سره ګډ ماموریتونه او په سیمه ییزه کچه د سولې او

پخلاینې د اړوندو فعالیتونو لپاره د لاسرسي د تمویل بسیجول شامل دي. په نورو احتمالي اقداماتو کې د نورو ادارو یا سیمه ییزو چارواکو سره د یوناما د کارمندانو ځای پر ځای کول، د سرک له لارې د ماموریتونو پراخول، چیرې چې امنیت د تلو اجاز ورکړي، او د ملګرو ملتونو د قراردادیانو کارول شامل دي. په هرصورت ، باید تصدیق شي چې د یوناما سیمه ییزه شبکه او سیاسي رسیدنه د دې ماموریت بې ساری پرتله ییزه برتري دی . د نهو ولایتي دفترونو تړل د ځایي چارواکو او مدني ټولنې سره د منظمو اړیکو د نیولو په برخه کې ننګونې وړاندې کوي او همداشان د ماموریت لومړیتوب لرونکو ساحو ته د رسیدنې چارې متاثره کوي. په ځانګړي توګه، پدې کې د مرکزي او محلي کچو ترمنځ د متقابلو خبرو اترو د ملاتړ لپاره د ماموریت وړتیا شامله ده، لکه څنګه چې غوښتنه شوې چې د بشري حقونو پیښې په ګړندی توګه تصدیق کړي، د ځایي شخړو په حل کې مرسته وکړي، د سیمه ییزې ادارې د فعالینو ظرفیت لوړ کړي او د بشر پالنې د ابتدایي خبرتیا نقش ولوبوي.

۶۶. زه سپارښتنه کوم چې د یوناما ماموریت چې د ۲۰۱۳ کال د مارچ په ۲۳ پای ته رسیږي، د نورو ۱۲ میاشتو لپاره تمدید شي. ماموریت د افغانستان لپاره د نړیوال ملاتړ په برخه کې په پرله پسې توګه مهم رول لوبوي او د ماموریت عملیاتي فعالیتونه د لیږد د پروسې پر اړتیاوو بنا او د هغو پر اساس رهبري کیږي. په سیمه ییزه کچه، د بشري حقونو او پرمختیایي همغږۍ په شمول د دوو اړخیزو ژمنو لپاره د حسابورکونې په تړاو د قوي مدافعې په شمول، د افغانانو تر مشرتابه لاندې د سیاسي بهیرونو د ملاتړ په برخه کې د ښو هڅو دفترونه او سیاسي لاسرسی د کلیدي لومړیتوبونو په حیث پاتې دی. د ۲۰۱۴ کال وروسته د ملګرو ملتونو د راتلونکې شتون او کاري تنظیماتو په اړه د یوه نوې را منځ ته شوې دیالوګ په حیث، دا لومړیتوبونه به احتمالا د بدلون د لسیزې (۲۰۱۴-۲۰۱۵) له لارې د ثبات او پایښت په برخه کې د مرستې کولو لپاره بنسټیز عناصر وي. د هیواد مزمن فقر او د طبیعي پیښو پر وړاندې په اسانۍ سره زیانمنیدل، چې د یوه بې ثباته او ژر ماتیدونکې امنیتي وضعیت په واسطه تشدید شوی، پدې معنی چې د ملګرو ملتونو د بشرپالنې د چارو کار به هم د پیشبیني وړ راتلونکې لپاره مهم پاته شي. پداسې حال کې چې دا لومړیتوب لرونکې ساحې دي په کومو کې چې ملګري ملتونه کولای شي دوامداره ښکېلتیا په پام کې ونیسي، پدې برخو کې د کار ترسره کول به په ټول هیواد کې کافي سرچینو او معنی لرونکې شتون ته اړتیا ولري.

۶۷. ماموریت به د یوې مستقیمې پایلې په حیث په هغه مسیر کې بدلون را منځ ته کړي په کوم کې چې د لیږد د پروسې په جریان کې ماموریت کار کوي کوم چې د افغان مشرتابه تقویه کوي، د افغان ادارو د ظرفیت په لوړولو ټینګار کوي او د نورو نړیوالو فعالینو د شتون په برخه کې کموالی مشاهده کوي. پدې تنظیماتو کې به د همغږي شوي ماموریت او ادارو، وجهي صندوقونو او پروګرامونو تر منځ پر مختللي اړیکې شاملې وي. غواړم ټینګار وکړم چې ملګري ملتونه نه غواړي په منظم ډول د ملکي دندو مسؤلیت په غاړه واخلي کوم چې اوس مهال د ولایتي بیارغونې د ټیمونو په ګډون د نړیوال نظامي ځواکونو لخوا ترسره کیږي او په قطعي توګه به په دې تر هغو غور و نه کړي چې د حکومت له خوا څرګنده غوښتنه نه وي شوې او د منل شویو افغان ملي لومړیتوبونو او د ملګرو ملتونو د اختیاراتو او اصولو سره په بشپړ سمون کې نه وي. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو هدف باید دا وي چې سیاسي پروسې، بنسټونه او ظرفیتونه پیاوړتیا کړي ترڅو له دې لارې هغه خدمتونه وړاندې کړي کومو ته چې خلک اړتیا لري او خلک یې مستحق او سزاوار دي. د سترو بدلونونو د دورې په جریان کې، ملګري ملتونه باید د افغانستان د خلکو، بنسټونو او په دیموکراتیکه توګه د انتخاب شویو چارواکو سره د اظهار شوې او اوږد مهاله ژمنتیا خپله ژمنه وساتي او پرې عمل وکړي.

۶۸. زه غواړم په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ټولو داخلي او نړیوالو کارکونکو او زما د ځانګړي استازي یان کوبیش څخه، د دوي د دوامداره وقف لپاره، اکثرا د ننګونو څخه په ډکو شرایطو کې، د افغانستان د خلکو سره د ملاتړ په برخه کې زموږ د ژمنو د پوره کولو په موخه، مننه وکړم.

**ضميمه**

د معيارونو په وړاندې ترسره شوی پرمختګ

**لومړی. امنيت**

**معيار: پايښت لرونکې افغان امنيتي ادارې او بهيرونه چې د سولې او ثبات د يقيني کولو او د افغان وګړو د ساتنې وړتيا لري**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مټريکس* |
|---|---|
| د توافق شوي جوړښت سره سم، د رهنمايي شوي، روزل شوي او عملياتي افغان ملي پوليسو او ملي اردو پرسونلو زيات شوي شمير | • د پوځ او پوليسو شمير په ترتيب سره ۱۸۲۰۰۰ (۱۲۳۵۵- د ۲۰۱۲ د ډسمبر لپاره د دولتي هدف تر پايه)او ۱۴۹۰۰۰ ته رسيدلی.<br>• د شمالي اتلانتيک د تړون د سازمان په غونډه کې برخه اخيستونکو چې د ۲۰۱۲ کال په ۲۰ او ۲۱ د متحده ايالاتو په شيکاګو کې جوړه شوې وه د افغان ملي امنيتي ځواکونو لپاره خپل ملاتړ يو ځل بيا تاييد کړ. له دې وړاندې، د ځواکونو د راتلونکې اندازې لپاره يو ماډل/نمونه د همغږۍ او نظارت د ګډ بورډ د بهير له لارې تاييد شوې وه. لومړنی ماډل/نمونه چې د نړيوالې ټولنې او د افغانستان د حکومت لخوا تعريف شوې وه، د اټکل شوي کلنۍ ۴.۱ ميليارد ډالرو بوديجې سره د ۲۲۸،۵۰۰ ځواک اټکل کوي، چې د مخ پر ودې امنيتي چاپيريال پر وړاندې به يې په منظمه بياکتنه وشي. ځواک ته د ننوتلو نيټه لا نه ده نهايي شوې. |
| د مرحلې او شرايطو پر اساس د افغان امنيتي رهبري د ليږد لپاره په پلان کې پرمختګ | • ولسمشر د مې د مياشتې په ۱۳ او د ۲۰۱۲ کال د ډسمبر په ۳۱ د ليږد ساحو دريم او څلورم پړاو تصويب کړ. د څلورم پړاو په بشپړيدو سره به ۸۷ سلنه نفوس د افغان امنيتي مشر تابه لاندې وي. |

**دويم. سوله، ادغام او پخلاينه**

**معيار: د سولې د مساعد سياسي چاپيريال د تقويې لپاره د رغنده او ټوله شموله پروسې د تعقيب په موخه ملي ډيالوګ او سيمه ييزه ښکيلتيا**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مټريکس* |
|---|---|
| د سولې، ادغام او پخلاينې هڅو د تقويې لپاره د ټول شموله ملي او سيمه ييزو پروسو طرح او تطبيق | • د ۲۰۱۲ کال د ډسمبر په پای کې، ټولټوال۶۱۹۳ تنه دولت ضد عناصر د افغانستان د سولې او بيا يوځای کيدو په پروګرام کې شامل شول. پدې ارقام کې د ټولټال ۵۴۹ قوماندانانو يا مشرانو ثبت او د ټولټال۵۱۹۵ وسلو راټولول شامل دي.<br>• ولسمشر د ۲۰۱۲ کال د جولای په ۱۹په کابل کې د پاکستان له لومړي وزير او د پاکستان د بهرنيو چارو له وزير سره وکتل ترڅو د سولې په پروسې او د افغانانو ترمنځ د خبرو اترو د اسانتيا لپاره پر اقداماتو خبرې وکړي.<br>• د ۲۰۱۲ کال د نومبر له ۱۲ څخه تر ۱۵ پورې، د سولې د عالي شورا يوه پلاوي د اسلام آباد څخه ليدنه وکړه. په پام وړ پايلو کې د شورا په غوښتنه د پاکستان لخوا د لسګونو طالب بنديانو خوشې کول شامل دي، په دې ناسته کې پريکړه شوه چې پاکستان، افغانستان او متحده ايالات به د احتمالي مذاکره کونکو د خوندي تګ تسهيل کړي. |

| | |
|---|---|
| د امنیت شورا کمیټې ته چې د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) پریکړه لیک په تعقیب تاسیس شوې، د تازه او کره معلوماتو د راغونډولو او وړاندې کولو کې د افغان چارواکو له خوا زیاته شوې وړتیا<br><br>د ټولنې په کچه او له مدني ټولنې سره د ښکیلتیا له لارې د سولې پروسې لپاره د خلکو زیات شوی ملاتړ | • د ۲۰۱۳ د جنوري په ۱۱، ولسمشر متحده ایالاتو ته د خپل سفر په جریان کې، په دوحه کې د طالبانو لپاره د یوه دفتر په اړه له کومه ځایه څخه چې به هغوي د سولې د عالي شورا د استازو سره په مستقیمو خبرو اترو کې برخه اخلي، یو ځل بیا ټینګار وکړ.<br>• د افغانستان د سولې او مجدد ادغام پروګرام د بیا یوځای کیدو نوښتونو ته ادامه ورکوي، د لاندې هغو په شمول: الف: په ۲۲ ولایتونو کې په ۶۹ ولسوالیو کې د کوچنیو پورونو د ټولټال ۱۳۶ پروژو تصویب؛ (ب) د ماین پاکۍ دوه پروژې چې د بادغیس، بغلان، سمنګان او تخار ولایتونه تر پوښښ لاندې نیسي؛ (ج) ، د ملي ساحې پر اساس د پراختیایي پروګرا له لارې په ۱۷ ولایتونو کې ټولټال ۴۷ پروژې، د کلیوالي لاسرسي ملي پروګرام او د کلیوالي اوبو رسولو تدارک، د روغتیا ساتنې او اوبو لګولو پروګرام؛ (د) د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو د وزارت له خوا د ټولټال ۱۳۰۰ څخه زیاتو پخوانیو جنګیالیو او د ټولنې د ټولټال ۱۷۷۰ غړو لپاره مسلکي روزنه؛ (د) د ټولګټو چارو وزارت په شپږو ولایتونو کې د سړک د دوامداره ساتلو په موخه د عامه کارونو د ترسره کولو ډلې تاسیس کړي چې ټولټال ۵۹۵ تنه پخواني جنګیالي او ۵۹۲ د ټولنې غړي یې په دندو ګمارلي دي.<br>• د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر، د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام او د کار نړیوال سازمان د ۲۰۱۳ په فبروري کې یو اراده لیک لاسلیک کړ څو په راستنیدونکو ټولنو کې لومړنیو خدمتونو ته لاسرسي ښه کړي او د معیشت فرصتونو ته وده ورکړي ترڅو د بشري - پرمختیا تشې ډکې کړي.<br>• په ۲۰۱۲ کې د افغانستان حکومت د امنیت شورا کمیټې ته مستند، تازه او دقیق معلومات چمتو کړل چې د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) پریکړه لیک په تعقیب رامنځ ته شوی.<br>• د ۲۰۱۲ کال د مارچ له لومړۍ نیټې څخه د ۲۰۱۳ کال د فبروري تر ۲۸ نیټې پورې، د طالبانو اته تنه غړي د حکومت لخوا له لست څخه د ښو اثبات شویو غوښتونو په تعقیب د بندیزونو له لست څخه ایستل شوي دي.<br>• د سولې دوه ولایتي کمیټې جوړې شوې چې په دې سره د ټولیزو هغو شمیر ۳۲ ته ورسید. د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدنې د پروګرام د پلي کونکو ولایتي ګډ سکریټریټ د ټیمونو شمیر ۳۲ ته لوړ شو.<br>• د سولې د اړوندو فعالیتونو لپاره د رابطو اشخاصو په حیث د ټولټال ۳۰۱۴ دیني مشرانو په پیژندلو سره، د سولې عالي شورا او د علماو شورا با نفوذه مذهبي فعالینو ته لاسرسي جاري ساتلی.<br>• د ۲۰۱۲ کال د جون له ۲۱ څخه تر ۲۱ پورې، د ټولټال ۱۵۰ څخه زیاتو مطرح عالمانو، د مدني ټولنې فعالانو او دیني مشرانو د افغانستان د سوله ییزې راتلونکې په اړه د اسلامي همکاریو د دوهم نړیوال کنفرانس لپاره په کابل کې سره ولیدل. برخه اخیستونکو یوه اعلامیه خپره کړه چې په هغې کې یې د ملکي وګړو پر وړاندې ځانمرګي بریدونه او نور تاوتریخوالی وغانده.<br>• د سولې د عالي شورا د میرمنو کمیټې د ۲۰۱۲ کال په اپریل میاشت کې یو ورکشاپ دایر کړ چې د ټولو ولایتونو څخه ۳۵۰ میرمنو پکې ګډون کړی و، او نور ورکشاپونه یې د ۲۰۱۲ کال په ډسمبر کې د سولې او امنیت په برخه کې د ښځو د رول په اړه او د افغان ښځو |

| | |
|---|---|
| | د شبکې سره د امنیت شورا د ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) پریکړه لیک په اړه جوړ کړل. د داخلي امنیت په اړه د ولسمشر د سلاکار محمد معصوم ستانکزی او د سولې د عالي شورا د عمومي منشي سره یو ځای ښځینه غړو د سویلي آسیا د امنیت په کنفرانس کې چې د ۲۰۱۲ کال د نومبر له ۲۹ څخه تر د ډسمبر تر ۲ پورې په عمان کې ترسره شو ګډون وکړ.<br>• د سولې د اونۍ په جریان کې، د ۲۰۱۲ کال په سپټمبر کې، د سولې عالي شورا د هیواد په کچه د لاسرسي ټولټال ۱۹۵ پیښې تنظیم کړې او په رسنیو کې یې پیغامونه خپاره کړل تر څو پوهاوی را منځ ته کړي او د سولې د هڅو لپاره ملاتړ بسیج کړي چې شاوخوا ۲۰۰۰۰ خلکو پکې برخه اخیستې وه. |

**دریم. حکومتولي او د ادارو جوړونه:**

**معیار: په ځايي کچه د پالیسي ګانو د تطبیق ظرفیت او خپلو ځانونو د ساتلو له زیاتیدونکې وړتیا سره د ډیموکراتیکو، قانوني، او حساب ورکوونکو ادارو د جوړولو له لارې په ټولو هیواد کې د حکومت د واک پراخول.**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مټریکس* |
|---|---|
| د ښځو ګډون او په قانوني ډول د ورکړل شوې ونډې په پام کې نیولو سره، د حقیقي او مهالنیو ټاکنو ترسره کولو لپاره د افغان چارواکو او د خپلواکو ټاکنیزو ادارو زیاته شوې وړتیا | • د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ۲۰۱۲ کال په مې میاشت کې خپل پنځه کلن ستراتیژیک پلان (۲۰۱۲-۲۰۱۶) نهایي کړ، چې د قانوني ماموریت د پلي کولو لپاره یې د لارې یوه نقشه ده، د ټاکنو په پروسې باندې د شریکبانو باور پیاوړی کوي، د ښځو ونډه خوندي کوي او د ښځو لا ډیره برخه اخیستنه یقیني کوي او ظرفیت او پایښت یې تقویه کوي.<br>• کمیسیون د ټاکنو موجوده قانون بیا وکوت او خپله وړاندیز شوې مسوده یې د ۲۰۱۲ کال د جون په ۱۱ عدلیې وزارت ته واستوله. کمیسیون په ملي او سیمه ییزه کچه د افغانستان له ښکیلو اړخونو سره مشورې ترسره کړې.<br>• په ۲۰۱۲ کې، کمیسیون د ۱۵/۲۰۱۴ ټاکنو لپاره د رایې ورکوونکو د نوم لیکنې پلان جوړ کړ. له پراخو مشورو وروسته، یاد کمیسیون د نوم لیکنې تقویتي فعالیت تصویب کړ چې تر نویو رایه ورکوونکو او د نوم لیکنې د پخوانیو هغو تر جوړولو پورې محدود پاته شوې. |
| د څارنې او ارزونې د کمیټې تاسیس او د فساد پر وړاندې د معیارونو پراختیا | • د ۲۰۱۲ په نومبر او ډسمبر کې، د اداري فساد پر وړاندې د نظارت او ارزونې د خپلواکې ګډې کمیټې اوومه لیدنه د اداري فساد د په نښه کولو لپاره د اضافي وړاندیزونو او معیارونو لامل شوه. ټولټال وړاندیزونه ۵۷ (د ۷۴ څخه) او ټولټال معیارونه ۵۸ (د ۷۵ څخه).<br>• د ۲۰۱۲ کال په نومبر کې، کمیټې د کابل بانک په اړه یوه عامه پلټنه بشپړه کړه او خپل راپور یې ولسمشر ته وړاندې کړ. همداشان یې په عامه توګه هم چمتو کړی. |
| د اداري فساد پر وړاندې د ادارو پیاوړتیا څو د اداري فساد پر وړاندې د حکومت د بشپړ روښ نظارت وکړي | • دولت معلوماتو ته د لاسرسي د قانون او د ملي تفتیش د قانون تصویب؛ د شتمنیو ثبت، تایید او نشر او د جواز جوړونې د طرزالعملونو ساده کولو ته دوام ورکوي. |

| | |
|---|---|
| د عامه چارواکو د شتمنیو د اعلان کلنۍ خپرونه | • د اداري فساد پر وړاندې د حکومت د څار عالي اداري د لوړ پوړو دولتي چاروکو د شتمنیو د ثبت، تایید او اعلان چارې پر مخ بیوولې. تمه کېږي د راجستر شوي لست لږ تر لږه ۱۰ سلنه به د ۲۰۱۳ تر جون پورې تایید شي. |
| په مرکزي، ولایتي او د ولسوالیو په کچه په ملکي برخو کې د ملکي کارکوونکو د ظرفیت لوړول څو دندې پر مخ بوزي او خدمتونه وړاندې کړي | • د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکې اداري په نږدې ټولو ولایتونو کې د لومړیتوب د ظرفیت د اړتیاوو ارزونه ترسره کړه. د روزنېز لاربشودونه او لاربشوونې د ملکي خدمتونو د کمیسیون په همکاري د جوړیدو په حال کې دي.<br>• د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې اداري د ظرفیت جوړولو ریاست د روزنو لپاره د عمل پلانونه او د بودیجې وړاندیزونه چمتو کړل. |
| مخ پر زیاتیدونکې رونوالی او د ملکي خدمتونو د ګمارنو موثریت | • د وړتیا پر بنسټ د ولسوالانو او ولایتي مرستیالانو ګمارل دوام لري، د جوزجان ولایت د فیض آباد په ولسوالۍ کې د هیواد د لومړنۍ ښځینه ولسوالې په ګډون، ۶۰ تنه نوي ولسوالان او ۱۷ مرستیال والیان د ۲۰۱۳ په جنوري کې ټاکل شوي دي. په ټوله کې، د دې پروسې له لارې ۱۸۹ ولسوالان او ۳۲ مرستیال والیان ګمارل شوي دي.<br>• د پوهاوي لوړولو لپاره، د سیمه ییزې حکومتدارۍ خپلواکې اداري د والیانو او ولسوالانو لپاره د لور موندنې پروګرامونه په لاراچولي، چې د سیمه ییزې حکومتدارۍ په پالیسی ټینګار کوي. |
| د ملکي خدمتونو د اصلاحاتو پیاوړتیا چې ملاتړ یې د ظرفیت جوړونې او د تمویل کونکو د وجهي تخنیکي مرستې د یوه جامع روش له خوا کیږي | • د پایلو د پروګرام لپار ظرفیت جوړول یو پنځه کلن پروګرام دی، چې د ۳۵۰ میلیون ډالرو په ارزښت تمویل شوی، ترڅو د کلیدي وزارتونو له لارې د اړینو خدماتو د وړاندې کولو لپاره د دولت ظرفیت لوړ کړي. اصلي وسیلې یې دي: د عمومي کاري ډلو رامنځ ته کول؛ د ملکي خدمتونو د مدیریت نهادینه کول؛ د مسلکي ډلو را منځ ته کول؛ د هدف وړ تخنیکي مرستې چمتو کول؛ او د مرسته کونکو پرووګرامونو له لارې د کلیدي وزارتونو ښکیلول. دا به همداشان د عامه خدمتونو په ډګر کې د معاشاتو همغږي کول تسهیل کړي. حکومت د تخنیکي سلاکارانو ملي کمیسیون جوړ کړی دی.<br>• د کار وړ او مؤثرې حکومتدارۍ په هکله د ملي لومړیتوب پروګرام د ۲۰۱۳ کال د فبروري په ۱۲ د همغږۍ او نظارت د ګډ بورډ په ناسته کې تائید شوه. |
| د سیمه ییزې حکومتدارۍ د پالیسۍ پلي کول او د محلي، نظارتي، مالي او بودیجې چوکاټونه انکشاف | • د سیمه ییزې حکومتدارۍ د پالیسۍ لپاره د پلي کولو یو لومړیتوب لرونکی چوکاټ د سیمه ییزې حکومتدارۍ د خپلواک ریاست لخوا تصویب شو تر څو د ملي کچې او ولایتي کچې د پالیسۍ او پروګرام د پلي کولو ترمنځ اړیکې ښې کړي.<br>• ګڼ شمیر قوانین ملي شورا ته د ور سپارلو په تمه دي: د سیمه ییز حکومت قانون د جنوري په میاشت کې د وزیرانو شورا ته د بیاکتنې لپاره وسپارل شو؛ د ښاروالیو قانون، د ښاروالیو سره له پراخو مشورو وروسته بیا تعدیل شوی چې د عدلیې وزارت د تقنین ریاست له اجرایوي کمیټې سره پروت دی؛ او د ولایتي شورا قانون دا مهال د عدلیې وزارت د بین الوزارتي تقنیني کمیټې لخوا تر غور لاندې دی.<br>• د ملي پراختیایي ستراتیژۍ په اړه په ښه شوې تمرکز سره، په ۲۰۱۲ کې، د ۳۴ ولایتي پرمختیایي پلانونو څخه ۳۳ هغه یې بشپړ شوي. |

| | |
|---|---|
| د اداري حدودو لپاره د معیارونو پراختیا او خپرول | • د جون په میاشت کې، د سیمه ییزو ارګانونو خپلواک ریاست او د افغان جیوډسي او کارتوګرافي مرکزي دفتر یوه ګډه اعلامیه خپره کړه چې پکې یې ملي او نړیوالو ادارو ته خبرداری ورکړ چې د ۲۰۰۹ کال د داخلي حدودو ډیټا چې د رسمي تصور په حیث تنظیم شوي ومني او په افغانستان کې وکارول شي. |
| د فعالو حکومتي ادارو لپاره د مناسبې زیربنا رامنځ ته کول، په ځانګړي توګه په سیمه ییزه کچه | • د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره د ولایتي اداري ودانیو د جوړولو لپاره د اړتیاوو یوه ارزونه او پلان بشپړ کړ، چې د اقتصاد وزارت لخوا تصویب شو. بودیجه د مالیې وزارت ته استول شوې. |
| د با اعتباره او د لاسرسي وړ قضایي او جزایي سیستمونو رامنځ ته کول چې د ټولو اتباعو بشري حقوقو ته درناوی کوي او ملاتړ کوي | • د ۲۰۱۲ کال په مارچ کې، د وزیرانو شورا د جزایي اجرااتو قانون مسوده تصویب کړه او ملي شورا ته یې وسپارله. د ۲۰۱۲ په اکتوبر کې، ملي شورا هم د لوی څارنوال د دفتر په اړه د قانون بیاکتنه پیل کړه.<br>• د ۲۰۱۳ کال د فبرورۍ په ۵، د مرکزي زندان د ریاست مشر د زندان ۹۹ عملیاتي لارښودونه لاسلیک وکړ چې موخه یې د زندانونو د سمې اداري او مدیریت یقیني کول دي.<br>• د جرمي قانون د اصلاحاتو کاري ډلې چې رهبري یې د عدلیې وزارت له خوا کیده، د جزا قانون په اړه د ۲۰۱۲ په مې کې خپله بیاکتنه پیل کړه.<br>• د ۲۰۱۳ کال په جنوري کې حکومت د ټولو لپاره د قانون او عدالت په هکله د ملي لومړیتوب پروګرام دریمه مسوده د مشورې لپاره خپره کړه، چې د بیاکتنې په موخه د مرستندویانو اندیښنې په پام کې ونیسي.<br>• د عدلیې وزارت د حقوقي مرستې د دفترونو شمیر په ۲۰۱۲ کې ۲۹ ته لوړ کړ (په ۲۰۰۹ کې له ۱ څخه په ۲۰۱۱ کې ۱۶هغو ته لوړ کړ) ، د ۸۴ حقوقي قانون پوهانو لپاره، د ۲۵ نورو مدافع وکیلانو په برابرولو سره چې د افغانستان د بیا رغونې د وجهي صندوق د قضا د سکتور د پراختیا پروګرام له لارې چمتو شوي.<br>• په ۲۰۱۲ کې، د غیر دولتي سازمانونو لخوا د قانوني مرستې د خدماتو وړاندې کول د ۲۵۰ مدافع وکیلانو څخه د کال په پای کې شاوخوا ۲۳۶ وکیلانو ته را کم شوي.<br>• د افغانستان د وکیلانو له خپلواکې ټولنې سره د راجسټر شویو وکیلانو شمیر د ۲۰۱۱ کال په ډسمبر کې ۱۱۵۰ وو، چې دا شمیر د ۲۰۱۳ په جنوري کې ۱۵۰۰ هغو ته لوړ شو.<br>• د لوی څارنوال د دفتر لپاره د معاشاتو او رتبو د اصلاحاتو کڅوړه د ۲۰۱۲ په مارچ کې پلې شوې، د ټولو څارنوالانو معاشونه لوړ شوي.<br>• حکومت، د ملګرو ملتونو د ماشومانو د وجهي صندوق په ملاتړ، په شخړه کې د ښکیلو ماشومانو لپاره د رسمي قضایي پروسې لپاره د بدیلونو په اړه لارښودونه طرحه کړي، د بیلګې په توګه، مسلکي روزنه یا د ټولنې خدمتونه، ترڅو په سیستم کې د ماشومانو شمیر راکم کړي. دغه لارښوونې د اصلي قضایي ارګانونو لخوا تر کتنې لاندې دي. |

| | |
|---|---|
| | • د بندیانو د ردیف بندي، ملاقاتونو، د تلاشي او ضبطولو د معیارونو، د ځواک د کارولو او د شمولیت او خوشی کولو د پروسیجرونو په شمول د مرکزي محبس ریاست د اداري او مدیریت د ښه کولو په هدف ۱۷۸ عملیاتي لارښوونې بررسي کوي. |

**څلورم. بشري حقونه**

**معیار: د افغانستان د اساسي قانون او نړیوالو قوانینو سره سم د افغانانو بشري حقونو ته درناوی ښه شوی، په خاص تاکیید سره، د ملکي وګړو ساتنه، د ښځو او نجونو وضعیت، د بیان آزادي، احتساب چې بنسټ یې د قانون پر حاکمیت ولاړ وي**

| د پرمختګ شاخصونه | مقیاسونه |
|---|---|
| د نړیوالو قوانینو سره د اړوندو فعالینو د تعقیبولو له لارې، د ملکي خلکو په وړاندې د ځواک د نا قانونه کارونې او ویرولو د پېښو په شمیر کې کمښت | • په ۲۰۱۲ کال کې، د شخړې اړوند تاوتریخوالي ۲۷۵۴ ملکي وګړي وژلي او ۴۸۰۵ ټپیان کړي، چې دا د ۲۰۱۱ کال په پرتله د ټولو ملکي تلفاتو په نسبت ۴ سلنه کموالی دی. دولت ضد عناصر د ۲۱۷۹ ملکي مړینې او ۳۹۵۲ ټپي کیدو مسؤل و، د ۲۰۱۱ په پرتله ۹ سلنه زیاتوالی دی. دولت پلوه ځواکونه د ۳۱۶ مړینې او ۲۷۱ ټپي کیدو مسؤل و، د ۲۰۱۱ په پرتله ۴۶ سلنه کمښت دی.<br>• د ۲۰۱۲ کال په مې کې، حکومت د ولسمشرۍ د معلوماتو د همغږۍ په مرکز کې د ملکي تلفاتو د معلومولو یو ټیم رامنځ ته کړ او د ۲۰۱۲ کال په نومبر کې یې د ملکي وګړو د ساتنې لپاره د ولسمشر یو سلاکار وټاکه.<br>• د ملکي تلفاتو د کمولو لپاره، د ۲۰۱۲ په جون کې، د نړیوال امنیت مرستندویه ځواک (ایساف) خپل عملیاتي طرزالعملونه تعدیل کړل ترڅو د ملکي استوګنځایونو پر وړاندې د هوایی ځواک کارول محدود کړي.<br>• طالبانو په خپله عامه ویب پاڼه ۵۳ بیانونه خپاره کړي، د کومو له جملې څخه چې ۲۵ هغو پکې د ملکي تلفاتو او د بشري حقونو د خوندیتوب اړوندو مسلو رسیدګي کړي.<br>• ملګرو ملتونو د بشري حقونو د نړیوال قانون او د نړیوال بشردوستانه قانون سره د شخړې د ښکېلو خواو سره د ښه شوي موافقت او د پوهاوي د کچې د لوړولو مدافعې او پراخې څارنې هڅو ته دوام ورکوي. |
| د افغانانو له خوا د دوي د حقونو او د حکومت له خوا د خپلو ژمنو په اړه د پوهاوي لوړول | • د ښځو نړیوالې ورځې په مناسبت، ولسمشر د جنډر د مساواتو د اساسي قانون د تضمینونو د ساتلو په اړه د هیواد ژمنې یو ځل بیا تکرار کړې او یو شمیر بندي میرمنې یې له کوره د تېښتې په خاطر وبخښلې. د سپټمبر په ۱۶، د ولسی جرګې د ښځو د کمیسیون په یوه غونډه کې د ښځو د چارو او عدلیې وزیرانو د هغو ښځو حبس وغانده چې د تاوتریخوالي د پیښو څخه تښتیدلې او همداشان یې یادونه کړې چې د دې ډول کړنې لپاره هیڅ قانوني اساس شتون نه لري.<br>• ماموریت څلور راپورونه: دوه د ملکي وګړو د ساتنې، یو د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د پلي کیدو او بل په دولتي توقیف ځایونو کې د شخړې د اړوندو توقیفانو سره د چلند په اړه خپاره کړل. د راپورونو په تړاو، ماموریت د شریکانو او رسنیو سره د |

| | |
|---|---|
| | مدافعې فعالیتونه هم ترسره کړل ترڅو د عامو خلکو ترمنځ پوهاوی لوړ کړي.<br>• د ۲۰۱۳ کال په جنوري کې، ولسمشر د شخړې د اړوندو توقیفیانو په اړه د راپور په غبرګون کې د شکنجې او ناوړه چلند د ادعاوو د څېړلو په موخه یو هیئت رامنځ ته کړ. د فبروري په ۱۱، هیئت په نږدې ۴۸ سلنه مرکه شویو کسانو کې، پداسې حال کې چې دوه پر دریمې برخې یې مدافع وکیل ته لاسرسی نه درلود، د پولیسو او ملي امنیتي چارواکو لخوا د نیولو او تحقیق پر مهال د توقیفیانو د شکنجې او ناوړه چلند د شتون په اړه راپور ورکړ. د فبروري په ۱۶، ولسمشر د پلاوي د ۱۱ وړاندیزونو د پلي کولو لپاره یو فرمان صادر کړ.<br>• د ۲۰۱۲ کال په مارچ کې، حکومت د کم عمره ماشومانو د ګمارنې د مخنیوي لپاره د عمل پلان د پلي کولو په اړه د پرمختګ خپل کلنی راپور وړاندې کړ، کوم چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو په لیکو کې د کم عمر لرونکو ماشومانو ګمارنې ته د رسیدګۍ په موخه د پوهاوي لوړولو نوښتونه برجسته کوي، د ارزونې کړنلارې ښې کوي او د کم عمره ماشومانو د استخدام څارنه او د عمر د تصدیق کولو طرزالعملونه پیاوړي کوي. |
| د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي سره د مبارزې لپاره د حقوقي او پالیسۍ اقداماتو ښه اغیز او ملاتړ | • په ۲۰۱۲ کال کې، د روزنې او تجهیزاتو د برابرولو له لارې د جنډر د مساواتو او د ښځو د ځواکمنتیا لپاره (یو آین- ومن) په ملاتړ د نهو ولایتي کمیسیونونو تر څنګ په کابل کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو عالي کمیسیون جوړ شو. د ملګرو ملتونو د ښځو د ملاتړ اداري همداشان د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي په اړه د ډیټابیس په جوړولو او د هیواد په کچه د احصایو د راپور جوړولو په برخه کې د ښځو د چارو د وزارت ملاتړ وکړ.<br>• افغان ملي پولیسو او څارنوالانو د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي لږ تر لږ ۲۳۰۰ راپور شوي پیښې تر لاسه کړي چې له هغې جملې څخه تر ۱۱۰۰ زیاتي هغو جنايي تحقیقاتو ته لار هواره کړې.<br>• د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د راجع کولو د چوکاټ او د راجع کولو د سیستم د پلي کولو لپاره چې روغتیا، محافظت او قضايي سکتورونو سره نښلوي، د ملي پالیسۍ د پراختیا لپاره د وزارتونو، ملګرو ملتونو او غیر دولتي سازمانونو ترمنځ د تفاهم په یوه یادداښت هوکړه وشوه.<br>• د ملګرو ملتونو د میرمنو د ملاتړ اداره (یو این- ومن) د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړو د کړنو د ملاتړ په برخه کې د ملګرو ملتونو د وجهي صندوق اداره کولو ته دوام ورکړ، کوم چې په افغانستان کې د ښځو د خوندیتوب د ۲۸ مرکزونو له جملې څخه د ۶ هغو چارې تمویلوي. په ۲۰۱۲ کال کې د سرپناه وو لپاره ټولې ورکړې ټولټال ۴۵۰۰۰۰ ډالرو ته رسیدلې، چې د تاوتریخوالي د شاوخوا ۸۰۰ ژوندي پاتې شویو کسانو ملاتړ کوي. |
| د معافیت پر وړاندې د مبارزې په تړاو د حقوقي او پالیسۍ د اقداماتو او د انتقالي عدالت د پر مخ بیولو په اړه د پوهاوي او ملاتړ ښه کول | • د سولې عالي شورا د مدني ټولنې یو واحد رامنځ ته کړ تر څو د سولې په پروسو کې د مدنې ټولنې ګډون ترویج کړي، که څه هم ماموریت او د مدني ټولنې ډلو یادونه کړې چې د سولې ولایتي کمیټې |

| | |
|---|---|
| د بشری حقونو د نړیوالو میثاقونو، کنوانسیونونو او د افغانستان د نړیوالې دوره یې بیاکتنې د بشري حقونو د شورا له خوا د وړاندیزونو د پلي کولو په اړه د حکومت د راپور ورکولو د اړتیاو پوره کول | لا هم د مدني ټولنې، میرمنو او د قربانیانو د ډلو مناسب استازیتوب نه لري.<br>• د سولې په اړه د افغانانو د بحثونو د رهبري کمیټې د ۳۰ څخه زیات وکالتي نوښتونه ترسره کړل تر څو د خبرو اترو د لومړي پړاو موندنې ترویج کړي. د دوهم پړاو لپاره ازمایښت د ۲۰۱۳ فبروري کې پیل شو.<br>• د امنیت شورا د ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) پریکړه لیک د پلي کیدو په ملاتړ کې، د ملګرو ملتونو او نړیوالو همکارانو په ملاتړ حکومت د تخنیکي کاري ډلو او مشورو له لارې خبرې اترې تقویه کړې.<br>• مدني ټولنې، د ملګرو ملتونو په ملاتړ، د ښځو پر وړاندې د تبعیض د له منځه وړلو په اړه د کمیټې لپاره خپل رسمي راپور چمتو کړ چې د بیاکتنې په پروسې کې د دولت سپارنې او وړاندې کولو په چارو کې مرسته وکړي. په سپټمبر کې، د افغان میرمنو شبکې کمیټې ته د هغو مسلو یو لست وړاندې کړ چې د هیواد په کچه د مشورو له لارې پیژندل شوي.<br>• د ماشوم د حقونو په اړه د کمیټې د نهایي ملاحظاتو د وړاندیزونو پلي کولو لپاره، حکومت د ماشوم د یوه جامع قانون د مسودې چمتو کولو ته ځان ژمن وباله.<br>• د جون په میاشت کې، حکومت د ملګرو ملتونو د ماشومانو د وجهي صندوق په ملاتړ، د ماشومانو د حقونو په هکله د ملي قوانینو، ستراتیژي ګانو او پالیسیو له سره کتنه نهایي کړه تر څو د ماشومانو د حقونو په اړه د کنوانسیون سره مطابقت لرونکي ساحې او تشې وپیژني.<br>• په سپټمبر کې، حکومت د معلولیت لرونکو اشخاصو د حقونو کنونسیون د ملګرو ملتونو د ماین پاکۍ د خدمتونو په تخنیکي ملاتړ سره تصویب کړ.<br>• د ۲۰۱۲ کال په مارچ کې، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون په افغانستان کې د شخړې د اړوندو توقیف شویو کسانو سره د چلند په اړه یو راپور خپور کړ.<br>• د ملګرو ملتونو د ماشومانو د وجهي صندوق په ملاتړ د کمیسیون د ماشومانو د حقونو څانګه، د ماشومانو د حقونو په اړه خپل نظارت او راپور ورکونه پیاوړې کوي. په نیول شویو اقداماتو کې د کارمندانو د روزنې سربیره، د پوښتنلیکونو نظارت، د پوهې مدیریت سیستم او د کمیسیون د داخلي همغږۍ د پالیسیو بیاکتنې شاملې دي.<br>• په ۲۰۱۲ کې، د عدلیې وزارت د بشري حقونو د ملاتړ څانګې د ملي امنیت د ریاست د ټولټال ۳۲۶ افسرانو او د افغان ملي پولیسو د ټولټال ۳۶ افسرانو لپاره ۱۲ روزنیزې ناستې ترسره کړې، د شکنجې پر وړاندې د کنوانسیون او د مدني او سیاسي حقونو په اړه د نړیوال میثاق په شمول د بشري حقونو پر اصلي مسلو تمرکز کوي. |

## پنځم. اقتصادي او ټولنيزه پراختيا

**معيار: د حکومت پاليسي ګانې چې د نړيوالې ټولنې له خوا يې ملاتړ کيږي، کوم چې پايښت لرونکې اقتصادي ودې ته وده ورکوي او د ټولنيز ثبات سره مرسته کوي.**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقياسونه* |
|---|---|
| د ملي لومړيتوب پروګرامونه په نړيوال ملاتړ او تاييد سره ډيزاين او پلي شوي دي | • د ۲۰۱۲ کال په جون کې، د همغږۍ او نظارت ګډ بورډ د ملي لومړيتوب پنځه پروګرامونه تاييد کړل. د ۲۰۱۳ کال په فبروري کې د څلورو تاييد شويو هغو سره يو ځای، د ۲۲ پروګرامونو له جملې څخه ۲۰ هغه يې اوس تاييد شوي.<br>• د افغانستان په اړه د توکيو په کنفرانس کې، چې د ۲۰۱۲ کال په جولای کې جوړ شوی و، نړيوالې ټولنې ژمنه وکړه چې تر ۲۰۱۵ کال پورې تر ۱۶ ميليارد ډالرو پورې پراختيايي مرستې چمتو کړي او تر ۲۰۱۷ پورې به د تيرې لسيزې په کچه يا هغه ته نږدې ملاتړ چمتو کړي.<br>• د توکيو د دوه اړخيزه حساب ورکونې د چوکاټ د ژمنې د يوې برخې په توګه، حکومت له نړيوالې ټولنې سره په ګډه کار کوي ترڅو د تمويل طريقې نهايي کړي او د ملي لومړيتوب د پرګرامونو لپاره د پيسو جريان تسهيل کړي.<br>• د کليو د بيارغونې او پراختيا، پوهنې، عامې روغتيا، کرنې او اوبو د وزارتونه په شمول، د کډوالو او راستنيدونکو چارو وزارت له ۱۲ کليدي وزارتونو سره د تفاهم يادداښتونه لاسليک کړل، چې د ملي لومړيتوب د پروګرامونو د پلي کولو پر مهال د افغان کډوالو د زياتې ستنيدنې ساحو ته لومړيتوب ورکوي.<br>• د اګست په مياشت کې، د جاپان د حکومت په تمويل او د ملګرو ملتونو د وګړو د وجهي صندوق په تمويل، د احصايې مرکزي اداره په غور او دايکندي ولايتونو کې د ټولنيز ډيموګرافيکې او اقتصادي سروې په اړه په کار پيل وکړ چې تمه کيږي د ۲۰۱۳ کال تر اپريل پورې به بشپړ شي.<br>• د اطلاعاتو او فرهنګ په وزارت کې د ځوانانو د چارو معين، د ملګرو ملتونو د وګړو د وجهي صندوق په تخنيکي ملاتړ، د يوه راپور په تړاو چې د ملګرو ملتونو د وګړو د وجهي صندوق له خوا په افغانستان کې د ځوانانو د پراختيا په اړه رامنځ ته شوی و د ځوانانو د ملي پاليسۍ په جوړولو پيل وکړ. |
| په ټول افغانستان کې د پرمختيايي مرستو او حکومتي لګښتونو مساوي ويش | • د مالي وزارت د ولايتي بوديجې بندي يو ازمايښتي پروګرام پيل کړ چې په څلورو وزارتونو (پوهنې، عامې روغتيا، د کليو بيارغونې او پراختيا او زراعت) او د سيمه ييزو ارګانونو په خپلواک رياست متمرکز و. د ۳۴ ولايتونو له جملې څخه هر ولايت بايد په اړوندو وزارتونو کې د پروګرامونو لپاره ۵۰۰۰۰۰ امريکايي ډالره او د خپلواکې ادارې لخوا اضافي يو مليون ډالر ترلاسه کړي. ازمايښتي پروګرام د ۲۰۱۲ کال په بوديجې کې شامل شوی و. په هرصورت، تر دې دمه، يوازې ۱۷ ميليون ډالر د پوهنې د وزارت لپاره خوندي شوي، چيرې چې ازمايښت پيل کړی.<br>• د ماليې د وزارت د عامه مالي چارو د مديريت د يوې ارزونې پر بنسټ د اړوندو وزارتونو د ظرفيت د لوړولو لپاره کاري پلانونه چمتو کيږي ترڅو د دې وزارتونو د بوديجې په پلي کولو او د جذب په ظرفيت کې ښه والی راولي. |

| | |
|---|---|
| د افغان سرچینو پر بنسټ د عایداتو زیاتوالي او دوامداره وده | • د مالیې وزارت له خوا لومړني اټکلونه د ۲۰۱۳ کال لپاره کورني عایدات ۲.۴ میلیارد ډالر ښيي، په ۲۰۱۲ کال کې د ۱.۷ میلیارد ډالرو د ارقامو په پرتله ۴۱ سلنه ډیروالی ښيي. په هرصورت، دا اټکلونه جوتوي چې حکومت به د ۲۰۱۳ کال خپل داخلي هدف د ۷ سلنې په واسطه او د پیسو نړیوال وجهي صندوق هدف د ۱۱ سلنې د هدف په واسطه پوره نه کړي. |

**شپږم: سیمه ییزه همکاري**

**معیار: د سوکالۍ، سولې او ثبات په ملاتړ پایښت لرونکې او موثره سیمه ییزه همکاري.**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقایسونه* |
|---|---|
| د سیمه ایزو ارګانونو ښه همغږي او د سیمه ییزو پانګونو زیاتوالي | • د ۲۰۱۲ کال د مارچ په ۱۴، د افغانستان او ګاونډیو هیوادونو لپاره د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې سیمه ییز پروګرام چې ملاتړ یې د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو د دفتر لخوا کیږي، په ویانا کې د مشرتابه کمیټې خپله لومړۍ ناسته ترسره کړه. دې همداشان د افغانستان، قرغزستان او تاجکستان ترمنځ د نوي سیمه ییزې همکارۍ د چوکاټ د وزیرانو د کچې د لومړۍ درې اړخیزې ناستې ملاتړ وکړ، چې د جون په ۱ نیټه په دوشنبه کې جوړه شوې وه.<br>• د افغانستان په اړه د سیمه ییزې اقتصادي همکارۍ پنځم کنفرانس چې د ۲۰۱۲ کال د مارچ په ۲۶ او ۲۷په دوشنبه کې جوړ شوی و د سیمه ییزو اړتیاوو په لومړیتوب ورکولو تمرکز وکړ. د کنفرانس ګډونوالو د هغو ۱۷ پروژو د پلي کولو په برخه کې چې د افغانستان په اړه د توکیو په کنفرانس کې چې د ۲۰۱۲ کال د جون په ۷ دایر شو د تمویل لپاره وړاندې شو د جدی او اندازې وړ اقداماتو په ترسره کولو ځانونه ژمن بولي.<br>• افغانستان د شانګهای د همکاریو د سازمان په سرمشریزه کې چې د ۲۰۱۲ کال د جون په ۶ او ۷ نیټه په بیجینګ کې جوړ شوی و د څارونکي حیثیت ورکړل شو.<br>• د نومبر په میاشت کې، د ملګرو ملتونو د ماین پاکونې دفتر د افغانستان د ماین پاکۍ د موسسې لخوا د یوې ناستې ملاتړ وکړ تر څو په تاجکستان کې د خپلې همکارۍ ډلې سره ووینې څو وکولای شي د ماین پاکونې بهتر شوې عملیات بسیج کړي.<br>• د یوه خوندي او ثبات لرونکي افغانستان لپاره د سیمه ییز امنیت او همکارۍ په اړه د استانبول د پروسې د وزیرانو د کچې لومړۍ ناسته د جون په ۱۴ په کابل کې جوړه شوه. په ګډون کونکو کې د آسیا زړه د ۱۴ هیوادونو، ۱۴ ملاتړ کونکو هیوادونو او ۱۱ سیمه ییزو او نړیوالو سازمانونو څخه د لوړې کچې پلاوي ګډون درلود. برخه اخیستونکو پریکړه وکړه چې د اعتماد جوړونې اووه لومړیتوب لرونکي اقدامات چې ملاتړ یې د سیمه ییزو تخنیکي ډلو لخوا شوی، پلي کړي. دا بیا وروسته په شپږو اقداماتو کې سره یو ځای شوي، د سوداګرۍ خونې او د سوداګریزو فرصتونو د اعتماد جوړونې اقدامات د سوداګرۍ، تجارت او د پانګوونې د فرصتونو سره یوځای شوي. ټول شپږ واړه اقدامات - د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه ، د تروریزم پر وړاندې مبارزه او سوداګرۍ، تجارت |

| | |
|---|---|
| | او د پانګوونې فرصتونه - د فبروري په ۶ په باکو کې د لوړ پوړو چارواکو په ناسته کې تایید شول. په هرصورت ، ځینې کارونه پاتې دی چې باید ترسره شي.<br>• د افغانستان، پاکستان او متحده ایالاتو د لوړ پوړو چارواکو د یوې اصلي ډلې شپږمه ناسته د ۲۰۱۲ کال د اپریل په ۲۷ په اسلام آباد کې ترسره شوه. د سولې د هڅو د اسانتیا برابرولو او تسهیل په موخه دوه کاري ډلې رامنځ ته شوې.<br>• د ۲۰۱۲ کال د نومبر له ۹ څخه تر ۱۳ پورې، ولسمشر هند ته رسمي سفر وکړ. د سیمه ییز حکومت او د ټولنې د سازمانونو، کرنې، د ځوانانو د چارو او د سکرو او منرالي سرچینو د پراختیا په اړه د همکارۍ د ډېریدو په موخه څلور تړونونه لاسلیک شول.<br>• د ۲۰۱۲ کال د نومبر په ۲۹، افغانستان د پاکستان - افغانستان - چین د درې اړخیزو خبرو اترو په دوهمه غونډه کې ګډون وکړ چې په ترڅ کې یې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې اهمیت څرګند شو. ښکیلو خواوو د مخدره توکو پر وړاندې د نړیوالې همکارۍ په شرایطو کې د ملګرو ملتونو د مخکښ رول لپاره خپل ملاتړ څرګند کړ.<br>• د ۲۰۱۲ کال د ډسمبر په ۱۱ او ۱۲، د افغانستان، پاکستان او ترکیې د ولسمشرانو د سرمشریزې اوومه درې اړخیزه ناسته په انقره کې ترسره شوه. برخه اخیستونکو په خپلو ژمنو ټینګار وکړ چې د افغانانو په مشرۍ او د افغانانو په مالکیت د سولې او پخلاینې هڅې تشدید کړي او هغه ننګونې کومې چې سیمه متاثره کوي، له منځه یوسي.<br>• د ۲۰۱۳ کال د فبروري په ۴، د افغانستان او پاکستان د ولسمشرانو او د انګلستان د لومړي وزیر ترمنځ درې اړخیزه غونډه د انګلستان د لومړي وزیر په استوګنځي/ چیکرز کې ترسره شوه. د ناستې د تحویل وړ برخې عبارت دي له: د پاکستان له توقیف څخه د طالب بندیانو د خوشې کیدلو د همغږي د پیاوړي کولو لپاره تیاریانې؛ یو داسې تړون چې د نورو طالب بندیانو د خوشې کولو په برخه کې د سولې عالي شورا ته رسمي واک ورکړي؛ او داسې اقدامات چې د افغانستان او پاکستان د نظامي او امنیتي خدمتونو ترمنځ همکارۍ زیاته کړي. |

**اووم. د افغانستان او نړیوالې ټولنې تر منځ مشارکت**

**معیار: د افغانانو تر رهبرۍ لاندې د همغږي په چوکاټ کې د افغان لومړیتوبونو لپاره د نړیوالې ټولنې له خوا منسجم ملاتړ**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژي او د حکومت د لومړیتوبونو سره د مرستو د همغږي د سلنې زیاتوالی | • د مرستې مدیریت پالیسی، د توکیو د دوه اړخیزې حساب ورکونې د چوکاټ لپاره مهمه ګڼل کیږي، د ۲۰۱۲ کال په ډسمبر کې نهایي شوه او د همغږي او نظارت د ګډ بورډ په ناسته کې چې د ۲۰۱۳ کال په فبروري کې جوړه شوه، تایید شوه. دا په افغانستان کې د مداخلتونو د یوې لومړیتوب لرونکي مجموعې سره پلي کولو ته چمتوالی برابروي. |

| | |
|---|---|
| د دولت او نړیوالې ټولنې په استازیتوب د تدارکاتو او قرارداد په اړه بهتر شوی احتساب<br><br>د افغان لومړیتوبونو او دوه اړخیزو ژمنو په اړه د پرمختګ د منظمې ارزونې د یوې وسیلې په حیث د کابل د پروسې د ملاتړ په برخه کې د ګډې همغږۍ او بیاکتنې د هیئت پیاوړتیا | • نړیوالې ټولنې د توکیو په کنفرانس کې د ملي بودیجې له لارې د ۵۰ سلنې پراختیایي مرستې د تنظیم او د ملي لومړیتوب پروګرامونو لپاره د ۸۰ سلنه مرستې د صنف بندي کولو په اړه خپله ژمنه بیا تکرار کړه.<br>• د مالیې وزارت له شریکبانو سره د پرمختیایي همکاریو منظمو خبرو اترو ترسره کولو ته دوام ورکوي ترڅو د مرستې د مدیریت په پالیسۍ کې د چمتو شوي لارښود سره سم د ملي لومړیتوب د پروګرامونو د ملاتړ د برابرولو په لور د پرمختګ ارزونه وکړي.<br>• د مرستې د مدیریت پالیسي د همغږۍ او نظارت د ګډ بورډ په ناسته کې چې د ۲۰۱۳ کال په فبروري کې جوړه شوې وه، تایید شوه. دا د پرانیستې بودیجې د شاخص د نوښت په اړه د افغانستان د امتیازاتو حساب رامنځ ته کوي، کوم چې په ۲۰۱۰ کې له ۲۱ څخه په ۲۰۱۲ کې ۵۹ ته لوړ شوی، د ۴۰ نمرو د هدف څخه چې د توکیو دوه اړخیزې حساب ورکونې د چوکاټ په ژمنو کې ټاکل شوی، اوړي.<br>• د ۲۰۱۲ کال په دویمه نیمایي کې، حکومت او نړیوالې ټولنې د همغږۍ او څارنې د ګډ بورډ له لارې، د توکیو د دوه اړخیزې حساب ورکونې د چوکاټ د پلې کیدو د ملاتړ لپاره د همغږۍ د جوړښتونو په اصلاح شوي مجموعې هوکړه وکړه. په دې اصلاح شوي جوړښت کې د رهبرۍ کمیټه چې رهبري یې د مالیې وزارت له خوا شوې تر څو د وزیرانو او سفیرانو په کچه ستراتیژیک ډیالوګ او تخنیکي کمیټې ته چې معاونین او کلیدي مرسته کونکي پکې شامل دي، وده ورکړي. |

**اتم: د مخدره توکو سره مبارزه**

**معیار: د تریاکو د کښت د تقلیل ، د مخدره توکو د تولید او په مخدره توکو په اعتیاد کې پایښت لرونکی رجحان**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| د تریاکو د کښت، مخدره توکو د تولید او اعتیاد په میزان کې کاهش | • په ۲۰۱۲ کال کې په افغانستان کې په ټولټال ۱۵۴۰۰۰ هیکتاره ځمکه د کوکنارو کښت کرل شوی و، چې دا د ۲۰۱۱ کال د ۱۳۱۰۰۰ هکتارو په پرتله ۱۸ سلنه لوړ و. په ټولیزه توګه ۹۵ سلنه کښت په سویل او لویدیځو ولایتونو کې متمرکز و: ۷۲ سلنه په هلمند، کندهار، ارزګان، دایکندي او زابل کې ولایتونه او ۲۳ په سلو کې، په فراه، هرات او نیمروز ولایتونو کې. کښت د کنړ په ولایت کې (۱۲۱ سلنه)، د کاپیسا په ولایت (۶۰ سلنه) او د لغمان په ولایت (۴۱ سلنه) د پام وړ وده کړې.<br>• د نباتي ناروغیو او خرابې هوا له امله د اپیمو احتمالي تولید په ۲۰۱۲کال کې ۳۶ کم شوی، یعني د ۵۸۰۰ څخه ۳۷۰۰ ټنو ته را ټیټ شوی.<br>• په افغانستان کې د مخدره توکو د کارونې په اړه د متحده ایالاتونو د بهرنیو چارو د وزارت د مخدره توکو او قانون د پلې کولو د چارو د نړیوالې اداري لخوا وروستۍ سروې جوتوي چې د مخدره توکو د بالغو کاروونکو شمیر ممکن له ۱.۳ میلیون هغو څخه ډیر وي، او شاوخوا ۳۰۰،۰۰۰ ماشومان یې اغیزمن کړي. د مخدره توکو د |

| | |
|---|---|
| د موثره مخنيوي او قاچاق ضد هڅو په برخه کې زياتوالی | درملنې د ۹۰ مرکزونو څخه په زياتو هغو کې د اټکل ۱۵۹۷۴ انفرادي کسانو د ملاتړ په موخه د مخدره توکو درملنه بهتره شوې.<br>• په ۲۰۱۲ کال کې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې پوليس افسرانو ټولټال ۲۹۲۸ عمليات ترسره کړي، چې دا د ۲۰۱۱ په پرتله ۶۲ سلنه زياتوالی دی. د دې عملياتو په پايله کې ۱۲۶ ټنه ترياک، ۵۴ ټنه مورفين، ۸ ټنه هيروين، ۱۳۲ ټنه چرس او ۱۷۹ ټنه کيمياوي پريکرسر توکي ضبط شوي. د نيشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې پوليسو د کوکنارو ۲۰۵۳۰ هکتاره ځمکه له کوکنارو پاکه کړې او د هيروينو د توليد ۷۲ لابراتوارونه يې له منځه وړي دي. د دې فعاليتونه په پايله کې ټولټال ۲۷۶۰ شکمن کسان نيول شوي.<br>• د پريکرسرونو په اړه د سيمه ييزو استخباراتو کاري ډلې راپور ورکړی چې د جولای په مياشت کې د اسلام کلا د اوښتو راوښتو په پوله/بندر (هرات ولايت) کې ۱۱ټنه اسيټيک انهايډرائيډ نيولي دي. د افغانستان - قرغيزستان - تاجکستان د نوښت لاندې، د مخدره توکو پرضد د مبارزې پوليسو د نومبر په مياشت کې د تاجکستان د مخدره توکو د کنټرول د ادارې سره په ګډه يو لړ عمليات ترسره کړل، چې په ترڅ کې يې شاوخوا ۵۰۰ کيلوګرامه مخدره توکي ونيول او يو شمير کسان يې ونيول. |
| په هغو ځمکو کې چې پخوا پرې ترياک کرل کيدل، په ناقانونه کرهنه او اړوند خصوصي پانګونې کې د پانګې اچونې زياتوالی | • د بديل معيشت ملي تګلاره چې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د وزارت لخوا جوړه شوې د ۲۰۱۲ کال په فبروري کې تاييد شوه. دا پاليسي حکومت ته توان ورکوي چې د کوکنارو د کښت د وابستګې د عواملو او اصلي لاملونو په له منځه وړلو سره حقوقي کليوالي معيشت پياوړی او متنوع کړي. |